بسم الله الرحمن الرحيم

# د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

(۸)

ډاکټر کفايت الله وردګ

# د کتاب په اړه

د کتاب نوم : د اسلامي تاریخ له پانو څخه (۸)

لیکوال : ډاکټر کفایت الله وردګ

د کمپیوټر چارې : محمد نذیر (ذبیح)

د چاپ وار : لمړی

د چاپ شمېره : ۱۰۰۰ ټوکه


ZamZam

Publication Company



زم زم

خپرندویه ټولنه

Zamzam_publication@yahoo.com


00923009808094
00923009101098

Unit R 7 Alwajid Plaza, Faisalcolony Chawk, Dalazak road
Peshawar, KPK, Pakistan




# ډالۍ

د رسول الله ﷺ د نسبي او رضاعي میندو ، عمه ګانو، بیبیانو او لورانو رضوان الله علیهن په یاد باندې دا معطره رساله د اسلامي امت پاکو، د عصمت، شرافت، عفت، متانت، غیرت ، پردې او عزت نه ډکو خویندو ته ډالۍ کوو .



# د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

په زړونو کې د اسلامي جذبې لرونکو ځو ورونو زمونږ ددې لپاره ملا تړلې ده چې تر پورتني نوم لاندې د کتابونو يوه سلسله روانه وساتو پدې هلو ځلو کې زمونږ هيڅ مالي او دنيوي فايده نشته زمونږ غرض صرف د الله تعالی رضا ده او پدې سلسله کې مونږ ځو نکتې تر نظر لاندې لرو چې مونږ دې ټولو هلو ځلو ته هڅوي .

١. پښتنو ورونو ته ددوی په خپله خوږه ژبه کې ديني معلومات ورکول.

٢. د اسلامي تاريخ د مهمو واقعو ياد را تازه كول .

٣. مسلمانو ورونو ته د دوی د مقدس دين په اړه د مطالعې ضمينه مساعدول.

٤. په تېر تاريخ کې د قربانيو مثالونه د نن زمانې ويده مسلمان امت ته ور په زړه كول .

٥. د اسلام په تاريخ کې د تېرو مسلمانانو د صبر واقعې هغه خلكو ته ور په يادول چې اوس هم په كومه نه كومه وجه د كفر له لوري نه ځوريږي .

٧. موجوده مسلماني جامعې ته موقع وركول چې د خپلو تېرو مسلمانانو د ژوند، مېړانې، ځوانمردی، قربانی ... نه عبرت واخلي .

او بالآخره نوي ځوان تنکي نسل ته د اسلامي تاريخ د لويو کتابونو څخه لويې خبرې د وړو رسالو او کتابونو په شکل کې ددوی د اسانتيا لپاره وړاندې کول .

دا پورتنی او څه نورې داسې نکتې دي چې مونږ ددې سلسلې روانې ساتلو ته هڅوي او ان شاء الله ترڅو مو چې وس وي دا لړی به مونږ همداسې روانه ساتو لله الحمد داده ستاسې تر لاسونو پورې ددې مبارکې لړۍ آتمه کړی هم در ورسېده او پدې کړۍ کې مونږ د رسول الله ﷺ د ميندو، عمه ګانو، بيبيانو او نوراني رضوان الله عليهن سېرت ته مخ اړولی دی اميد دی چې ستاسې د خوښې وړ به و ګرځي او که کوم ملګري دې لړۍ ته د لا زياتو ښه کولو لپاره په ذهن کې مشورې لري او يا خدمت کول غواړي زمونږ غېږه ورته خلاصه ده او که ددې کتاب او يا دې لړۍ په اړه ستاسې څه ډول اعتراض، سوال، نيوکه، نکته، نظريه او يا مشوره وي نو ددې سلسلې چلونکي به يې لتاسې نه د کور ودانې په ويلو سره په ورين تندي واوري او په راتلونکو کتابونو کې به يې په ياد لري . مننه

د زمزم خپرندويه ټولنې اداره

E-mail: zamzam_publication@yahoo.com

# حضرت آمنة بنت وهب د رسول الله ﷺ مور بي بي

نسب يې :

د پلار له لوري : آمنة بنت وهب بن عبد مناف بن زهرة بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان .

مور يې : برة بنت عبد العزى بن عثمان بن عبد الدار بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان .

دا د ټولو مسلمانانو د ميندو سرداره چې الله ① هر ډول عزت او شرف ددې په برخه کړی دی د رسول الله ﷺ مور بي بي وه د زكاوت صفايي پاكي عفت لپاره ژوندی نمونه وه په قريشو كې د هغې كورنی ښځه وه چې فخر وربانديې كېدلو او په شرافت پاكي او عفت كې يې ځانګړی نوم درلود .

په خپل وخت كې عبد المطلب د رسول الله ﷺ نيكه د قريشو سردار او مشر وو ده په ځان باندې نذر ومنلو كه چېرته ماته الله ① لس نارينه زامن

راکړل نو یو به زه د الله ① د رضا لپاره دهغه په وړاندې ذبح کوم ددې لپاره چې زه هغه ته خپل شکر اداء کړم په یو وخت کې چې د عبد المطلب لس زامن پوره شول نو اوس یې غوښتل چې یو ذبح کړي نو د دوی په مینځ کې یې څنګه خوښ کړي کوم یو ذبح کړي؟ د دوی په مینځ کې یې پچه واچوله (قرعه اندازي یې وکوله) هغه په هغه چا باندې را ووتله چې ده ته ډېر محبوب او د رسول الله ﷺ والد محترم عبد الله وو نو حیران وو چې څه وکوي ددې زوی حلالول خو ډېر ګران کار دی .

ده ته پدې وخت کې مشوره ورکړل شوه چې زوی پرېږده دده په ځای لس اوښان ذبح کړه دا مشوره یې خوښه شوه لکن بیا یې هم د لسو اوښانو او عبدالله په مینځ کې قرعه اندازي وکوله بیا هم د عبد الله نوم را ووتلو داسې یې لس اوښان نور پرې زیات کړل او بیا هم نوم د عبد الله را ووتلو لس لس یې وربانددې اضافه کول ترڅو چې سل اوښان شول بیا په قرعه کې سل اوښان را ووتل عبد المطلب زیات پرې خوشحال شو او عبد الله یې پرېښود سل اوښان یې حلال کړل پدې کار سره ټول قریش د عبد الله په ژوندي پاتې کېدلو خوشحال شول او څرنګه چې ګمان کېدو عبد الله به ووژل شي لکن هغه ژوندی پاتې شو نو خلکو ورته ډېر د قدر په نظر کتل له بله پلوه چې آمنه بي بي نازولې او

د قدر وړ ښځه وه هغه یې ده ته په نکاح کړه دوی چې په اوله شپه سره یو ځای شول آمنې په خوب کې ولیدل چې ددېنه یوه رڼا پورته شي ټوله دنیا رڼا کړي او په هغه رڼا کې دې مبارکې ته د بصرې او شام تعمیرونه ښکاره شي او یو غیبي اواز دېته راشي ورته وایي ای آمنې ددې امت په سردار باندې ته حامله شوې .

خاوند یې د تجارت په سلسله کې شام ته لاړو په همدې سفر کې بیمار شو او په مدینه منوره کې په حق ورسېدو .

آمنه بي بي چې د عبد الله سره یې بې ساري مینه درلوده دده په انتظار کې یې شپې او ورځې تېرولې او د کور خلک چې نور د عبد الله په مرګ خبر شوي وو دېته چا هم د ویلو زړه نشوای کولی بالآخره حارث بن عبد المطلب راغلو او دا خبر یې ټولو ته ښکاره کړو چې عبد الله په یثرب (مدینه منوره) کې په حق ورسېدو دا خبر په ټوله مکه کې خپور شو عبدالله داسې ځوان وو چې صرف دده خپل کور نه بلکه ټولې مکې ورپسې ژړل او هر چاته د هغه ځواني او ځوانمردي یادېدله .

پداسې وخت کې چې د صبر نه بغیر آمنې د خپل خاوند په مرګ نور هېڅ هم نشوای کولی په صبر کې الله ① ورسره ډېره مرسته وکوله او ددې ذهن یې هغې خوبونو خوا ته وګرځولو چې دې به د

ماشوم په اړه لیدل او د هغه په اړه به یې فکر کولو او په ذهن کې به ورتلل چې عبد الله د پلار له ذبح نه ولې وساتل شو صرف ددې لپاره چې ماته یوه رڼا یې راکړي ... داسې ښکاره کېده لکه د آمنې بي بي لپاره چې پدې ماشوم کې صبر خوندي شوی وو او په هر قدم ددې ماشوم یاد لدې سره په مشکلاتو کې مرسته کوله .

کله چې د ماشوم د پیدا کېدلو وخت شو دا مبارکه فرمایي چې ما هېڅ تکلیف محسوس نه کړو کله چې رسول الله ﷺ پیدا شو ماته داسې ښکاره کېده لکه چې یوه رڼا زمونږ په کوټه کې خپره وي او په زړه کې مې محسوس کوله لکه مریم بنت عمران ، آسیة د فرعون ښځه او هاجر د اسمعیل علیه السلام مور ټولې چې زما سره وي او ماته بالکل د تنهایي احساس نه کېدو .

کله یې چې نیکه عبد المطلب ددې ماشوم په پیدا کېدو خبر شو ډېر زیات ورته خوشحال شو په غېږ کې یې واخیستو او حرم ته یې یوړو هلته یې ورسره طواف وکولو او محمد نوم یې وربانددې کېښود یو څه وخت وروسته هغه حلیمې بي بي ته حواله شو قصه به یې د حلیمې بي بي په بحث کې راشي .

وروسته ددې چې رسول الله ﷺ د شپږو کلونو شو مور بي بي یې له ځان سره ملګری کړو چې په مدینه منوره کې یې د پلار د ماماګانو کور ته ور ولي

او هلته به د هغوی لیدنه هم وکوي او دا مبارکه به د خپل خاوند قبر ته به هم ورشي او هغوی ته به هم وخت ورکړي چې خپل لمسی او د عبد الله زوی ووینې په بېرته راتلو کې چې د ابواء مقام ته را ورسېدل نو مور یې په عاجل ډول بېماره شوه او بیماري یې ورو ورو سخته شوه او بالآخره یې د اجل داعي ته لبیک وویل او په وچه صحرا او دښته کې وفات شوه ځرنګه چې رسول الله ﷺ صرف د شپږو کلونو وو او د مور مینې ته تر هروخت پدې وخت کې زیات ضرورت محسوس کیږي نو ډېر زیات ورباندې خفه شو او پدې وخت کې أم ایمن د دوی د سفر ملګرې وه هغې به دی خپل ځان ته ډېر په مینه نېږدې کړو او ده ته به یې ویل چې دا مرګ یوه حقه لاره ده او کو ښښ یې کولو چې دا وړوکی ماشوم د مرګ په معنی او مطلب پوه کړي .

خو بیا هم د مور وفات په رسول الله ﷺ باندې سخت تمام شو او کله یې چې په دښته کې دفن کړه تر ډېره ځایه به چې لاړل وړوکي یتیم به ډېر په نا امیدي کې د والدې د قبر خواته په خفګان کې شاته ور وکتل .

آمنه بي بي وفات شوه لکن یاد یې د رسول الله ﷺ په زړه کې او د ټول عالم اسلام په زړه کې د رسول الله ﷺ په واسطه پاتې شو .



# حضرت ثوبية (رض) (د رسول الله ﷺ رضاعي مور)

دا د ابي لهب وينزه وه کله چې رسول الله ﷺ پيدا شو دې ور منډه کړې او خپل مالک ته يې زيرى ورکړو چې وراره دې پيدا شو هغه دا د زيري په بدل کې ازاده کړه او دا اول هغه ښځه وه چې رسول الله ﷺ ته يې تر حضرت آمنې وروسته شودې ورکړې تر بعثت وروسته دا مبارکه رضى الله تعالى عنها هم په اسلام او ايمان مشرفه شوېده .

کله يې چې رسول الله ﷺ ته شودې ورکولې دې خپل زوى مسروح ته هم شودې ورکولې او د حضرت رسول الله ﷺ تره حضرت حمزة رضى الله تعالى عنه ته هم دې مبارکې شودې ورکړې دي د يوه روايت له مخې ابو لهب چا له مرګ نه وروسته په خوب کې ولېدو پوښتنه يې ترې و کوله څنګه يې؟ ده ورته وويل په ټوله هفته کې يوه ورځ راڅخه عذاب کميږي او ګوتې ته يې اشاره وکوله چې په هغه ورځ مې ددې ګوتو په مينځ کې اوبه راځي زه هغه څښم وجه يې داده چې کله ماته ثوبية د رسول الله ﷺ د پيدائښت زيرى راکړو نو ما هغه ازاده کړه او ورته مې وويل : ده ته به ته شودې ورکوې .

رسول الله ﷺ ته دې مبارکې د لږ وخت لپاره شودې ورکړې بیا حضرت حلیمه سعدیه راغله او هغې مبارکې بیا له ځان سره بانډې ته یوړو او نوره د رضاعت موده یې له هماغې سره تېره کړه .

رسول الله ﷺ به د حضرت ثوبیة زیات قدر کولو او هر وخت به یې تحفه او څه جامه ور لېږله تردې چې دا مبارکه وفات شوه .

د فتح خیبر څخه وروسته د هجرت په اوم کال وفات شوه یو زوی یې وو مسروح هغه تر دې وړاندې په حق رسېدلی وو .



# أم ايمن (بركة ) (د رسول الله ﷺ رضاعي مور)

دا بركة بنت ثعلبه بن عمر بن حصن بن مالك بن عمر النعمان رسول الله ﷺ ته له پلار نه په ميراث پاتې وه کله يې چې د خديجې رضى الله تعالى عنها سره واده وکولو بيا يې ازاده کړه لکن ټول عمر درسول الله ﷺ په خدمت کې پاتې شوه او په مينه او محبت سره يې دده ﷺ خدمت کاوه په اسلام مشرفه شوې وه او په هغه کسانو کې وه چې د اسلام په اول وخت کې په اسلام او هجرت مشرفه شوې وه د يو روايت له مخې به رسول الله ﷺ حضرت أم ايمن رضى الله تعالى عنها ته اواز کولو اى مورې! او کله به يې ويل : دا زما د اهل بيت نه پاتې برخه ده ددېنه ښکاره کيږي چې په رسول الله ﷺ باندې ګرانه وه او رسول الله ﷺ د احترام په نظر ورته کتل .

حضرت انس رضى الله تعالى عنه فرمايي کله چې رسول الله ﷺ وفات شو دې ژړل چا ورځخه پوښتنه وکوله چې مرګ حق دى ته ولې ژاړې؟ دې وويل هو زه پوهېدم چې هغه به يوه ورځ وفات کيږي لکن زه پدې ژاړم چې دده په وفات سره اسماني وحى بنده شوه ددېنه معلوميږي چې ددې له وحى سره

همدردي وه او ددې په زړه کې وو چې دا وحی لا نوره هم پسې اوږده شوې وای .
په یو روایت کې له عثمان بن قاسم نه راغلي دي چې کله أم ایمن هجرت کولو روژه یې وه په دښته کې زیاته تږې شوه لکن په وچه دښته کې نه اوبه وې او نه په نظر راتلل چې د اوبو پیدا کول به اسان وي ویې لیدل چې په خالي دښته کې یوه ډولچه اوبه دي او په سپینه رسۍ پورې د پورته خوا نه ډولچه را ځوړنده ده دې ورڅخه اوبه وڅښې بیا دهغې نه وروسته دا کله هم نه تږې کیدله حتی چې دا مبارکه فرمایي په سخته ګرمۍ کې به یې کله کله ځان له ګرمي څخه نه ساتلو دې به غوښتل چې تږې شي لکن بیا هم نه تږې کیدله .
رسول الله ﷺ به ددې په اړه فرمایل : أم ایمن زما د مور نه وروسته مور ده .
ددې په خاصو صفاتو کې یو دادی چې دا په پښو باندې یوازې په رسول الله ﷺ پسې مدینې منورې ته روانه شوه بغیر ددې چې د لارې توښه او یا نور ضروریات ورسره واخلي او په یوازې ځان یې ځان په رسول الله ﷺ پسې ور ورسولو او ددې مبارکې پدې سفر کې یو لوی سبق پروت دی .
په غزوه اُحد کې شریکه وه د زخمیانو درملنه یې کوله او هغه کسان چې غوښتل به یې وتښتي دا

ورته په لاره کې ولاړه وه بېرته یې د میدان خواته ور ګرځول او که به څوک تښتېدل دې مبارکې یې مخ ته خاورې ور شیندلې او چیغې به یې ورته وهلې د جنګ ځای هغه خوا ته دی ته چېرته ځې او که ته چېرته تښتې نو دا توره دې ماته راکړه پدې اواز سره به جنګیالي بېرته د جنګ میدان ته مخ اړولو او ګڼو کسانو ته یې همداسې ویلي وو .

په غزوة حنین کې هم شریکه وه او په غزوة خیبر کې یې هم برخه اخیستې وه .

د حضرت عمر ❽ د وفات نه شل شپې وروسته د حضرت عثمان ❽ د خلافت په شروع کې وفات شوه او په بقیع کې خاورو ته وسپارل شوه .



# حضرت حلیمه السعدیة (د رسول الله ﷺ رضاعي مور)

نسب یې :

دا حلیمة بنت أبي ذؤیب عبد الله بن الحارث بن شجنة بن جابر بن رزام بن ناصرة بن فصیة بن نصر بن سعد بن بکر بن هوازن بن منصور بن عکرمة بن خصفة بن قیس بن عیلان بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان من بني سعد بن بکر من قبیلة هوازن،د حضرت رسول الله ﷺ رضاعي مور وه .

خاوند یې الحارث بن عبد العزی بن رفاعة بن ملان بن ناصرة بن فصیة بن نصر بن سعد بن بکر بن هوازن من بادیة الحدیبیة وو .

د مکې په قریشو کې عادت وو چې ماشوم به یې د رضاعت لپاره د مکې له آبادي څخه لرې لرې بني سعد بن بکر، بني لیث بن بکر او کنانة او نورو قبیلو ته لېږل ددې لپاره چې دا د رضاعت موده هلته په کلیواله ساحه کې تېره کړي او هلته به د خبرو د زده کولو شروع هم وکوي دهغه اطراف خلک صافه او پاکه عربي وایي نو شروع به په هغه ډول ژبه باندې وکوي او نورې فایدې هم دوی ته پدې کې ښکاره کېدې چې په اولو دوو کلونو کې باید ماشوم له آبادي څخه بهر وي نو د قبیلو څخه به ښځې پخپله مکې

مکرمې ته راتللې او دلته به يې په مزدورۍ سره ماشومان پيدا کول او هغوی به يې له ځان سره بېول نو هغو ښځو به کوښښ کاوه چې د داسې کورنی ماشوم پيدا کړي چې هغه مالداره وي او دوی ته ښه مزدوري ورکړي او رسول الله ﷺ پدې وخت کې يو يتيم ماشوم وو چې پلار يې دده له تولد څخه پخوا په حق رسېدلی وو لکن بيا هم څرنګه چې حليمې بي بي ته بل ماشوم په قسمت نه شو نو رسول الله ﷺ يې قبول کړو او له ځان سره يې بوتلو .

دا قصه دا مبارکه پخپله داسې کوي .

په دغه کال چې ما رسول الله ﷺ له ځان سره بانډې ته بوتلو زمونږ په ساحه باندې قحطي راغلې وه او هېڅ مو نه درلودل د نورو ښځو سره په يو ځای مکې ته راغلو چې که کوم ماشوم پيدا شي مونږ به يې په مزدوري سره پالنه وکوو زمونږ سره چې څومره ښځې راغلې وې ټولو ته رسول الله ﷺ ور وړاندې کړل شو لکن هغوی يې د قبلولو نه انکار کولو ځکه دا يو يتيم ماشوم وو هېچا دا تمه نشوای کولی چې دې ته به ددې ماشوم د پالنې په بدل کې څه ښه مزدوري په لاس ورشي او دا ماشوم ماته هم را وړاندې کړل شو ما يې هم له منلو نه انکار وکولو بالآخره زمونږ د قوم چې څومره ښځې راغلې وې ټولو يو يو ماشوم له

ځان سره پیدا کړو زه پاتې شوم بیا مې خپل خاوند ته وویل :

ددینه چې خالي لاس بېرته ګرځو ښه به دا وي چې دا ماشوم مو قبول کړی وی اګر که یتیم دی په همدې خبره مو فیصله وکوله مور مبارکې ته یې راغلو ترینه وا مو خستلو او له ځان سره مو خپل کور ته یوړو او پدې وخت کې زما بل ماشوم هم وو هغه ته به هم ما شودې ورکولې ددې امله چې مونږ غریبان وو زما په بدن کې به دومره شودې وې چې هغه به هم نه مړیدو او د شپې تر ناوخته پورې به د لوږې نه ویښ وو کله چې ما رسول الله ﷺ خپلې غېږې ته واچولو زما په بدن کې دده په برکت داسې شودې را پیدا شوې چې دی هم پرې موړ شو او زما خپل ماشوم هم وربانډې موړ شو او دواړه ویده شول .

زما خاوند د شپې هغه ګډې ته ورغلو چې مونږ لرله دده لاس د هغې په غلانځه بانډې ولګېدو چې ګوري دهغې غلانځه له شودو څخه ډکه ده او په هغې کې به یو څاڅکی شودې نه پیدا کېدلې بیا ماته راغلو راته ویل یې : ای د وهب لورې والله زه فکر کوم دا ماشوم مو بختور ماشوم را وستلی دی بیا یې د مېږې قصه راته وکوله ما ورته د خپل بدن د شودو او د دواړو ماشومانو د مړیدلو په اړه وویل .

کله چې مونږ مکې ته را روان وو زمونږ سپرلۍ کمزورې وه او د سپرلۍ د کمزور والي له امله مونږ نشوای کولی چې د نورو خلکو سره په یو ځای لاړ شو لکن اوس چې مونږ د رسول الله ﷺ سره روان وو مونږ په ټوله لاره د ټولو تر مخ روان وو او ټولو به رانه پوښتنه کوله چې دا ستاسې په سپرلۍ باندې څه چل وشو دا خو په منزل کولو کې دومره مېړنۍ نه وه؟

حضرت حلیمه بي بي فرمايي کله چې رسول الله ﷺ زمونږ کور ته راغلو یو ډول برکت راغلو سحر به مو چې مال شپونکي ته په لاس ورکړو بېګاه ته به يې چې را وستلو موړ به وو او غلانځې به یې له شودو څخه ډکې وې خلکو به خپلو شپونکیانو ته ویل : دا په تا باندې څه چل شوی دی داسې یې وڅروه لکه د ابي ذويب د لور شپونکی یې چې څروي د هغه مال بیګاه ته موړ او غلانځې یې له شودو څخه ډکې وي .

همداسې د برکت او خوشحالي نه ډک ژوند روان وو تردې چې ماشومان دواړه لوی شول او بهر یې لوبې کولې چې زما خپل ماشوم منډې را وهلې او ویل یې زما قریشي ورور ووژل شو زه او زما خاوند په منډه منډه ورغلو چې ویې ګورو په ماشوم څه شوي دي ماشوم مو پیدا کړو چې رنګ یې آلوتلی وو کله به ما ځان ته را نېږدې کړو کله زما خاوند پوښتنه مو ترې کوله بچیه څه در


بانديې وشول؟ ده مبارک وويل : خبر نه يم بس دوه کسان راغلل په ما يې يو څه وکول (د شق الصدر قصه مخکې تېره شويده زمونږ په هغه کتاب کې چې خاص د رسول الله ☸ په ژوندانه ليکل شوی وو)

بيا زه و ډاره شوم او زر مې خپلې مور ته ور وګرځولو .

د حضرت ابي الطفيل ❽ نه روايت دی هغه ❽ فرمايي : ما رسول الله ☸ وليدلو چې په جعرانة کې يې غوښه تقسيم کوله يوه بانډه چې کوچۍ ډوله ښځه راغله رسول الله ☸ ورته خپل څادر و غوړولو ا و هغه مبارکه رضی الله تعالی عنها وربانديې کېناسته .

ما پوښتنه وکوله دا څوک ده؟ خلکو راته وويل دا يې هغه مور ده چې ده ته يې شودې ورکړي دي .

دا مبارکه رضی الله تعالی عنها د هجرت په آتم کال بانديې وفات شوه .



# حضرت صفية بنت عبد المطلب (د رسول الله ﷺ عمه)

دا صفية بنت عبد المطلب الهاشمية وه د رسول الله ﷺ عمه وه او د حضرت سيدنا حمزة ❽ سكه خور وه او د حضرت زيبر ❽ مور وه او ددې مباركې رضى الله تعالى عنها خپله مور د بني زهرة ځنې وه .

لمړی ځل الحارث په نكاح كړه د ابو سفيان ابن الحرب ورور وو هغه ورڅخه وفات شو .

بيا العوام د حضرت زبير ❽ پلار په نكاح كړه بيا يې درى بچي ترې پيدا شول زبير ابن العوام ، سائب ابن العوام او عبد الكعبة .

دا مباركه رضى الله تعالى عنها په اسلام مشرفه شوې وه لكن معلومه نه ده چې د خپل ورور حمزه ❽ سره په اسلام مشرفه شوېده او كه د زوى زبير ❽ سره

دا مباركه ډېره زياته صبرناكه ، زړوره، د الله په هره فيصله باندې راضي وه د الله ① په لاره كې د هر ډول مصيبت سره په ورين تندي مخامخ كېدله او د خپل صبر امتحان يې هغه وخت په ښه نتيجه كې وركړو كله چې ددې سكه ورور حضرت حمزه ❽ په اُحد كې په شهادت ورسول شو او بيا دهغه شكل

هم خراب کړل شوی وو او نس یې هم وربانډې شکول شوی وو رسول الله ﷺ وویل چې دا یې خور صفیة ته مه ور ښکاره کوئ ځکه هغه زنانه ده ښه خبره نه ده چې خپل ورور په داسې حالت کې ووینې لکن دې ټینګار کاوه چې زه خپل ورور کتل غواړم رسول الله ﷺ ته یې وویل زه خبره شوې یم چې زما د ورور شکل ور خراب کړل شوی دی لکن زه یوه مسلمانه ښځه یم زه به صبر وکوم بیا یې وکتلو او صرف ویې ویل : انا لله و انا الیه راجعون د مغفرت دعا یې ورته وکوله تر ېنه روانه شوه ویې ویل اوس یې دفن کړئ .

او دې مبارکې د خپل شجاعت امتحان هلته ورکړو کله چې د خندق په غزا کې ټول مسلمانان ځوانان مصروف وو او په مدینه منوره کې یې زنانه ټولې په یو ځای کې په حصن فارع کې را ټولې کړې او حسان بن ثابت یې ورسره پرېښودو د بني قریظه یهودو وویل چې دا ښه موقع ده او یو کس یې د هغه قلا خوا ته را ولېږلو چې د مسلمانانو ښځې پکې وې دې کس ته یې وظیفه ورکړه چې وګوري د مسلمانانو ښځې په کوم ځای کې دي او د دفاع په اړه یې خبر راوړ چې څومره کسان د دوی د ساتنې لپاره پراته دي او که یوازې ښځې دي کله چې دا کس وړاندې ورغلو دا بي بي د خپل ځای نه ور ته را ښکته شوه او د خیمې په لرګي باندې یې داسې په زوره په سر ووهلو چې ځای په ځای

يې مړ کړو د يو قول له مخې چې يهودي قلا ته د ننه خوا ته ور وکتل دې مبارکې په توره ووهلو نورو يهودو انتظار کاوه چې د دوی ملګری له خبرونو سره بېرته ورشي لکن چې هغه و ځنډېد دوی پوه شول چې هغه اوس وژل شوی دی هغوی فکر وکاوه چې د مسلمانانو ښځې يوازې نه دي او خامخا څه کسان يې ورسره پريښي دي او يو بل ته يې ويل : ما درته وويل چې مسلمانان خپلې ښځې د سړيو نه بغير نه پرېږدي خامخا دومره څوک ورسره پاتې کيږي چې د دوی ساتنه وکوي ټول بېرته خپلو ځايونو ته و تښتېدل او بيا يې کله هم د مسلمانانو په مالونو او عزتونو د حملې کولو په اړه فکر ونه کولو .

ددې مبارکې سره رسول الله ﷺ ډېره زياته مينه کوله په يو حديث کې رسول الله ﷺ چې خپلو خپلوانو ته يې خبرې کولې و فرمايل : ای فاطمې د محمد لوري او صفيې د عبد المطلب لورې ، ای د عبد المطلب اولاده زه د ا لله ① په وړاندې له تاسې سره هېڅ نشم کولی که په دنيا کې تاسې لما څخه غواړئ څومره مال چې زما غواړئ دربه يې کړم .

نو په پورتني حديث کې يې دا هم داسې خاصه ياده کړه لکه خپل لور فاطمه يې چې ياده کړه ا

و فاطمه رسول الله ﷺ ته په ټولو خلکو کې ګرانه وه .

د حضرت عمر ؓ په زمانه کې د هجرت په شلم کال باندې د ۷۳ کلونو په عمر کې وفات شوه او په بقیع کې خاورو ته وسپارل شوه .

## اروى بنت عبد المطلب (د رسول الله ﷺ عمه)

نسب يې

د پلار له لوري : عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور يې : فاطمة بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم بن يقظة بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

د رسول الله ﷺ عمه وه او دده ﷺ د پلار عبد الله سکه خور وه په شعر کې يې پوره تجربه درلوده لکن شعر يې ډير کم ويلو ښکلې فصيحه ژبه يې درلوده او ښکلی شعر به يې ويلو .

د عمير بن وهب بن عبد قصي سره يې واده شوی وو او يو ماشوم يې وو طليب نوميدو په هغه وخت کې په اسلام مشرف شوی وو چې مسلمانان تر هغه وخته پورې لا په دار الارقم کې وو .

بيا يې د کلدة بن هاشم بن عبد مناف سره واده وکولو دهغه نه يې يوه ماشومه وه فاطمه نومېده همدا فاطمه هغه وه چې د مسيلمة کذاب سره يې واده شوی وو .

ددې مبارکې زوی طليب له ده څخه وړاندې په اسلام مشرف شوی وو او دا په اسلام هغه وخت مشرفه شوه چې کله يې خپل زوی د اسلام لوري ته را وبلله او ددې زوی طليب په اسلامي تاريخ کې اولنی هغه کس دی چې د شرک په حالت کې يې د رسول الله ﷺ مرسته کړېده او دا واقعه هغه وخت مينځ ته راغله چې عوف بن الصبرة السهمي دده په وړاندې رسول الله ﷺ ته ښکنځل وکول ده لاس کړو د اوښ پروت يو هډوکی يې را واخيستلو په سر يې ورباندې ووهلو هغه دده مور ته وويل : د عبد المطلب لورې دا وګوره ستا زوی څه وکول؟ هغې ورته وويل ده د خپل ماما د زوی سره مرسته وکوله او تا هغه ته ښکنځل وکول نو دهغه له لوري نه ده ووهلې .

کله چې يوه ورځ ابو جهل رسول الله ﷺ ته تکليف ورکولو حضرت طليب رضی الله تعالی عنه ورباندې

راغلو هغه یې ووهلو او په سر یې زخمي کړو خلک وربانډې را ټول شول وهلو یې بیا ابو لهب چې دده د مور د مور له اړخه ورور وو راغلو دی یې له خلکو نه خلاص کړو بیا یې چا مور ته وویل : ګوره دا ستا زوی څه کوي د محمد لپاره له خلکو سره ځان په جنجال آخته کوي او د هغه په ځای دی له خلکو سره جنګ کوي .

دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : دده په ژوند کې هغه غوره ورځې دي چې دی د خپل د ماما له زوی نه دفاع کوي .

دې ته وویل شول : آیا تا هم د محمد ﷺ متابعت کړی دی؟ دې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : هو .

څوک راغلل ابو لهب ته یې وویل : ستا خور اروی خو هم په اسلام مشرفه شویده ؟

دی راغلو اروی ته یې وویل : تاسې هم عجیب خلک یاست د محمد تابعداري مو وکړه د خپل نیکه عبد المطلب دین مو پریښودو او د محمد ملګرتیا مو وکوله دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته و فرمایل : راځه ته هم مسلمان شه او د خپل وراره مرسته دې وکوه او کله چې هغه کامیاب شو بیا ستاسې خوښه ستاسې لپاره بیا هم اختیار شته که د رسول الله ﷺ تابعداري کوئ او که بېرته خپل دین ته را ځئ لکن که هغه ته څه پېښ شي

نو بیا به تاسې هم په هغو کسانو کې شمار شئ چې د خپل وراره سره د غدر او خیانت وکولو .

دې مبارکې ته چې الله ① د شعر ښه قوه ورکړې وه د رسول الله ﷺ په مدح کې به یې ښکلي اشعار ویل او د رسول الله ﷺ ستاینه به یې کوله او په شعرونو کې به یې د رسول الله ﷺ دفاع کوله .

د رسول الله ﷺ په وفات باندې یې هم شعرونه ویلي وو او مرثیه یې جوړه کړې وه .

دا مبارکه د هجرت په پنځلسم کال باندې د حضرت عمر ❽ د خلافت په دوره کې په حق ورسېده .



# حضرت عاتکه د رسول الله ﷺ عمه

دا د ابي امية بن المغيرة مېرمن وه او د حضرت أم سلمة رضی الله تعالی عنها (د رسول الله ﷺ مېرمن) مور وه .
په اسلام کې يې اختلاف دی ځينې وايي چې په اسلام مشرفه شوې وه او ځينې وايي چې په اسلام نه وه مشرفه شوې او تر بدر وړاندې دې يو خوب ليدلی وو چې هغه بالکل رښتيا شو دې ليدلي وو چې په مکه کې هر کور ته مرګ ور ننوزي او څنګه چې دې خوب ليدلی وو د بدر واقعه په هماغه ډول پای ته ورسېده .
اما ابن منده رحمه الله په صحابياتو کې ذکر کړېده يعني دهغه په نظر دا مسلمانه شوې وه
امام ابن سعد فرمايي : عاتکه په مکه مکرمه کې په اسلام مشرفه شوه مدينې منورې ته يې هجرت وکولو او تر بدر وړاندې يې مشهور خوب ليدلی وو .

## أم حكيم (البيضاء) د رسول الله ﷺ عمه

دا أم حكيم بنت عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب وه مور يې فاطمة بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم وه په جاهليت کې يې د کريز بن ربيعة بن حبيب بن شمس بن عبد مناف بن قصي سره واده کړى وو او له هغه نه يې ماشوم عامر، اروى، طلحة او أم طلحة ماشومان پيدا شوي وو خپله لور اروى يې بيا عفان بن ابي العاص بني امية بن عبد شمس ته په نکاح ورکړه چې له هغه نه حضرت عثمان بن عفان ❽ پيدا شوى دى

## برة بنت عبد المطلب د رسول الله ﷺ عمه

د رسول الله ﷺ عمه او د جليل القدر بدري صحابي حضرت ابي سلمة بن عبد الاسد المخزومي البدري مور وه بل خاوند يې ابو رهم بن عبد العزى العامري وو د هغه نه يې يو ماشوم وو ابا سبرة دا هم بدري صحابي دى .

د رسول الله ﷺ تر بعثت وړاندې په حق رسېدلې وه .

## اميمة بنت عبد المطلب د رسول الله ﷺ عمه

دا هم د رسول الله ﷺ عمه وه د أم المؤمنين زينب رضى الله تعالى عنها مور وه ددې په اسلام کې اختلاف دى په يو قول چې دې اسلام قبول کړى وو او هجرت يې هم کړى وو او د بل قول له مخې چې دا تر هغه وخت لا پخوا مړه وه چې د اسلام رڼا مکې او بيا ټولې دنيا ته راغله .

## أم المؤمنين حضرت خديجه رضى الله تعالى عنها

أم المؤمنين السيدة خديجة بنت خويلد بن أسدٍ بن عبد العزَّى بن قصي القرشية الأسدية مور يې فاطمة بنت زائدة بنت جندب وه په مکه مکرمه کې تر هجرت څخه ٦٨ کاله وړاندې د مکې د شرافت ، قدر او عزت نه په ډکه کورنۍ کې پيدا شوې وه د ماشوم توب نه په نېکو اخلاقو باندې ښائسته وه تېز ذهن، قوى عقل ، عفت ، پاکي، پاکدامني، حياء ، شرافت او نېک اخلاق يې د هغه

صفاتو له جملې نه وو چې کله هم ددې رضی الله تعالی عنها څخه نه جدا کېدل د رسول الله ﷺ په بيبيانو کې تر ټولو لمړۍ د رسول الله ﷺ سره په ملاقات مشرفه شوېده د ټولو اهل السيرة د علما وو په اتفاق اول هغه انسان دی چې په اسلام مشرف شوی دی .

تر رسول الله ﷺ څخه وړاندې د جاهليت په زمانه کې د ښه مال خاونده ښځه وه ښه تجارت يې وو ښې پيسې يې درلودې خلک يې په پيسو باندې پيدا کول او د خپل مال سره به يې د تجارت لپاره لېږل وخت تېرېدلو چې د محمد ﷺ شکلی او خوږ نوم يې تر غوږو پورې ور ورسېدو د رسول الله ﷺ د صداقت، امانت ، نېکو خويونو او ديانت صفات يې آورېدل او د جاهليت په زمانه کې دا صفات ډېر کم پيدا کېدل بلکه لکه په رسول الله ﷺ کې چې په کومه پيمانه موجود وو په هغه پيمانه باندې نه پيدا کېدل تردې چې رسول الله ﷺ ته يې ا حوال ور ولېږلو او ترې ويې غوښتل که ددې د مال سره د شام په سفر لاړ شي او دا به هغه څه ورکړي چې نور تجار يې ده ته نه ورکوي .

رسول الله ﷺ هم دا خبره ورسره ومنله او ددې د مال سره د تجارت لپاره شام ته لاړو او دې ورسره يو غلام ميسرة هم ولېږلو تردې چې شام ته

ورسېدل رسول الله ﷺ د یوې ونې لاندې دمه وکوله چې د یوه راهب د کېناستلو کوټې او عبادتګاه ته نېږدې وه هغه راهب را ووتلو او میسرة ته یې وویل دا کس څوک دی چې د ونې لاندې ناست دی او دمه کوي؟ میسرة غلام ورته وویل : دا یو کس دی چې د قریشو د قبیلې نه دی د مکې هستوګن دی او د اهل الحرم څنې دی.

هغه راهب ورته وویل تردې ونې لاندې د نبي نه بغیر بل څوک دمه نه کوي .

بیا دوی لاړل په خپل تجارت بوخت شول څه یې چې خرڅول غوښتل هغه یې خرڅ کړل او څه یې چې ا خیستل غوښتل هغه یې واخیستل کله یې چې مال راوړو او حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها ته یې حواله کړو هغې په مکه مکرمه کې خرڅ کړو داسې ګټه یې پکې وکوله چې مخکې به ئې ددې نیمه کوله بلکه له دینه یې هم ښه ګټه وکوله .

بیا میسرة حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها ته وویل چې دا څومره نېک خوی لري په سفر کې یې لما سره څومره نېک اخلاق کول بیا یې ورته نورې قصې وکولې او د راهب خبر او تر ونې لاندې د رسول الله ﷺ د دمې په اړه یې ورته وویل نو د حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها زړه ته د رسول الله ﷺ مینه ور ننوتله رسول الله ﷺ ته یې پخپله نشوای کولی چې د واده بلنه ورکړي د یوې ملګرې

نفيسة بنت منية سره يې دا خپل راز شريک کړو هغه راغله رسول الله ﷺ ته يې وويل چې ته واده ولې نه کوې؟ رسول الله ﷺ ورته خپل اقتصادي مشکلات ياد کړل بيا هغې ښځې ورته وويل که داسې څوک لتا سره واده کول وغواړي چې دهغې ژوند لتا نه مخکې جوړ وي نو ستا به اقتصادي مشکل رفع شي هغې ورته راساً د خديجې نوم وانه خيستو بلکه له اشارو څخه ښکاره شوه چې دا خديجه رضی الله تعالی عنها ده رسول الله ﷺ دهغې سره نکاح ته تيار شو او خپل تره ابو طالب او په يوه قول کې حضرت حمزة ؓ حضرت خديجه د محمد ﷺ لپاره وغوښته دواړه کورنی رضا شوې او د دوی واده وشو پدې وخت کې رسول الله ﷺ د پينځه ويشتو او حضرت خديجة ؓ د څلويښتو کلونو وه او د رسول الله ﷺ څخه وړاندې دوه ځله کونډه شوې وه سره ددې چې دا رضی الله تعالی عنها ډيره وربانديې مشره وه لکن رسول الله ﷺ ورسره ډير په خوشحالی کې ژوند تېر کړو او ترڅو چې دا مبارکه رضی الله تعالی عنها ژوندی وه نو رسول الله ﷺ بل واده نه وو کړی او د رسول الله ﷺ د ماشومانو قاسم، عبد الله، زينب، رقية ، أم کلثوم، او فاطمې ؓ مور وه .

مهربانه مېرمن او په هر مشکل کې د رسول الله ﷺ سره ملګرې وه .

حضرت خدیجه بنت خویلد رضی الله عنها هغه ښځه وه چې اول ایمان یې راوړی دی .

کله چې نبي کریم ﷺ په غار حراء کې وو نو اواز ورته وشو چې اقرء (ولوله) نو رسول الله ﷺ وویل چې زه لوستونکی نه یم دا امر کونکی جبریل ﷺ وو بیا یې ورته وویل چې ولوله رسول الله ﷺ خپل جواب بیا ورته تکرار کړو په دریم ځل هغه ورته وویل اقرء بسم ربک الذي خلق ..... چې کله رسول الله ﷺ د غار حراء نه کور ته راغلو نو په بدن کې یې ستوماني او ستړیا وه حضرت خدیجې رضی الله عنها ته یې وویل چې ما په څه شي کې و نغاړه دی رضی الله عنها ورته ویل چې مه وارخطا کیږه ته ښه انسان یې ته امانت ساتونکی یې، ته خپلولي ساتې او ته دروغ نه وایې الله به تاته څه ډول بد نه در رسوي .

بیا رسول الله ﷺ او حضرت خدیجه رضی الله عنها دواړه ورقه بن نوفل ته ورغلل هغه د حضرت خدیجې رضی الله عنها د تره زوی وو نیک انسان وو او د ښې تجربې او لوی عمر مالک او په هغه وخت کې موحد او راهب وو هغه ته خدیجې رضی الله

عنهـا وويـل چې لـدې ورور نـه دې واوره چې ده څه لـيدلـي دي؟ هغـه رسول الله تـه وويـل چې څه دې لـيدلـي دي؟ هغـه تـه رسول الله ﷺ ټولـه قصه تـېره کـړه.. هغـه ورتـه وويـل چې بـيا درتـه راغلـو نـو صبر ورتـه وکـوه چې هغـه تـاتـه څه وايـي او چه يـې څه درتـه وويـل هغه بـيا ماتـه ووايـه بـيا ورتـه ورقـه وويـل چې تـه خوشحال شه تـه هغـه کس يـې چې حضرت عيـسى ؑ تـه ستـا پـه اړه ويـل شوي وو تـه بـه يـو څه وخت وروستـه خلـکو تـه د جهـاد امـر وکـوې کـه زه پـه هغـه وخت کـې ژونـدی وم نـو زه بـه ستـاسره پـه جهـاد کـې شريـک کـېږم . کـاش زه پـه هغـه وخت کـې ژونـدی وم چې کـلـه دا خلـک تـا لـه دی ځـای نـه وبـاسې ... رسول الله ورتـه پـوښتـنه وکـولـه ايـا دوی بـه مـا اوبـاسي؟ هغـه ورتـه وويـل : هـو ! هرڅوک چې د داسې شي سره راشي لـه کـوم شي سره بـه چې تـه را ځې هغـه لـه خپل ځـای نـه شړل کـيږي ... خو کـه زه پـه هغـه وخت کـې ژونـدی وم زه بـه ستـا مـرستـه وکـوم کـلـه چې ورقـة مـړ شو نـو رسول الله ﷺ وويـل : مـا تـه را ښکـاره کـړل شو هغـه پـه جنت کـې وو او سپـين ځادر پـرې خپـور شوی وو ځکـه هغـه پـه مـا ايـمـان راوړی وو او زمـا تـصديـق يـې کـړی وو.

نـو چې کـلـه حضرت خديـجې رضی الله عنـهـا دا هرڅه ولـيـدل چې تـراوسه پـورې لـه هرچا نـه پـټ وو نـو

همدلته پري خديجې رضی الله عنها ايمان راوړ او د اول مسلمان لقب يې واخيستو .

د حضرت خديجې رضی الله تعالی عنها په لويو صفاتو کې ددې عفت وو او هغه په داسې پيمانه باندې وو چې ددې دښمن او دوست وربانديې اعتراف کولو او ددې په لويو نومونو کې يو نوم وو الطاهره (پاکه ) چې اکثرو خلکو به دپته هروخت همدا نوم اخيستلو او که مونږ دې ته يکي ته په غور سره وګورو چې يو څوک مالدار هم وي او ښه دولت هم ورسره وي او بيا په داسې جامعه کې خپله ځواني تېره کړي چې هلته د حرام او حلال په نوم څوک بالکل کوم شی نه پېژني نو هغه چې داسې پاکه وي دا يقيناً د فخر خبره ده .

د حضرت خديجې بي بي ❽ په صفاتو کې يو لوی صفت د هغې ډېره زياته هوښياري وه او ددې په ژوند کې هر ځای همداسې ښکاره کيږي چې دا ډېره زياته هوښياره وه او ددې د ژوند هر عمل ددې ګواهي ورکوي چې دا رضی الله تعالی عنها د ډېر تېز عقل خاونده وه د مثال په ډول .

تر هرڅه وړانديې د رسول الله ☸ انتخاب د خپل مال د تجارت لپاره ددې د ډېرې هوښياری غوڅ دليل دی .

او بيا په داسې وخت کې چې د مکې د ټولو مشرانو او د ښو دولت لرونکو خلکو د زامنو له لوري ورته د نکاح دعوت ورکول کېدو دې رضی الله

تعالى عنها رسول الله ﷺ په داسې وخت کې د خپل ځان لپاره خوښ کړو چې دېته معلومه وه چې د یوې غریبې کورنۍ ځوان وو .
بیا چې کله رسول الله ﷺ ورته د وحی په اړه وویل دا بغیر ددېنه چې ګمان وکوي چې کېدای شي رسول الله ﷺ هسې د کوم شي نه ډار شوی وي او یا نور خیالات و جنګوي ذهن ته یې ورسېده چې په رسول الله ﷺ څه رښتیا شوي دي او ددې په ځای چې بیا یې کوم حکیم یا طبیب یا بل مشهور کس ته ورولي چې حالات معلوم کړي خپل د تره زوی ورقه بن نوفل چې په مذهبي امورو کې ماهر وو هغه ته وروستلو چې ددې واقعې په اړه ورڅخه معلومات وکوي او دایې په هغه وخت کې تر هر چا څخه غوره کس خوښ کړی وو چې دوی ترې معلومات کول .
حضرت خدیجې رضی الله تعالى عنها په داسې وخت کې د رسول الله ﷺ مرسته وکوله چې په هغه وخت کې هېڅوک هم د رسول الله ﷺ مرستې ته تیار نه وو او دې رضی الله تعالى عنها یې داسې مرسته وکوله چې خپل ځان، مال او هرڅه یې ده ته په مکمل اختیار کې ورکړل او له ده څخه یې زار کړل د رسول الله ﷺ خوښه وه چې هغه یې څنګه مصرف کول او پدې وخت کې حضرت خدیجه رضی الله تعالى عنها د رسول الله ﷺ صرف مېرمن نه بلکه یو ښه مرستندوی

او معاون وو او په هرمشکل کې به یې دده لاس نیولی وو او پدې لاره کې به یې چې څومره تکلیف لیدو همدومره یې د رسول الله ﷺ سره مینه زیاتیده او همدومره یې د رسول الله ﷺ سره ملګرتیا کلکه کیدله .

حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها د رسول الله ﷺ لپاره هغه ژوند قربان کړو چې دا پکې وه چې ټول له راحت نه جوړ وو او هرې خوا ته پکې ارامي وه اوس د رسول الله ﷺ سره په غرونو کې اوسېدلو ته هم تیاره وه او هر ډول مشکل ته تیاره وه چې په غاړه یې واخلي او پدې وخت کې د رسول الله ﷺ همداسې انسان ته ضرورت وو لکه دا رضی الله تعالی عنها چې څنګه وه .

او ښکاره خبره ده کومه ښځه چې داسې نیک صفات ولري هغه به غوره ښځه وي او رسول الله ﷺ یې هم په غوره والي باندې اعتراف کړی دی حضرت انس بن مالک ؓ فرمایي رسول الله ﷺ فرمایل : د ټول عالم له ښځو نه دې مریم بنت عمران، خدیجة بنت خویلد، فاطمة بنت محمد ، آسیة امرءة فرعون درته بس دي (یعني دا په ټولو کې غوره دي) .

او د یوې ښځې د نېکبختي انتها به وي چې رب العلمین وربانـدې سلام وایي حضرت جبریل ؑ

راغلو رسول الله ﷺ ته فرمايي : يا رسول الله داده لږ ساعت کې خديجه ❽ ستا په خدمت کې حاضريږي لوښی ورسره دی چې څه خوراک او يا د څښاک شی پکې دي کله چې تاته راغله د رب له لوري ورته سلام ووايه او زما له لوري نه يې ورته هم ووايه او زيری ورکړه چې الله ① درته په جنت کې کور جوړ کړی دی .

رسول الله ﷺ چې په ټولو نېکو صفاتو باندې الله ① ښائسته پيدا کړی وو ضروري خبره ده چې هر نېک صفت په هغه کې په پوره پيمانه وو ددې امله يې کله هم د چا نېک صفات نه هېرول او نه بې وفا وو نو هرڅوک اوس معلومولی شي چې د رسول الله ﷺ په وړاندې به د داسې ښځې څومره قدر وو هو رسول الله ﷺ يې په زړه کې ډېر زيات قدر کولو او په ښکاره سره به يې اقرار کولو چې خديجه رضی الله تعالی عنها د الله ① له لوري نه ده ته يو نعمت وو حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي رسول الله ﷺ به خديجه رضی الله تعالی عنها ډېره زياته يادوله او زه به ترې متاثره کېدم کله کله به رسول الله ﷺ ګډه حلال کړو او ټوټې ټوټې به يې کړو او د حضرد خديجې رضی الله تعالی عنها پسې د ثواب د رسېدلو لپاره به يې خيرات کړو کله کله به ما ورته وويل : لکه په دنيا

کې چې صرف همدا يوه ښځه وه خديجه ؟ ده ﷺ به راته ويل : بېشکه هغه وه او په رښتيا وه او د هغې نه زما اولاد وو .

حضرت خديجه رضی الله تعالی عنها تر هجرت ۳ کاله وړاندې وفات شوه او عمر يې ٦٥ کاله وو د يو روايت له مخې ٥٠ کاله وو او دا غوره دی رسول الله ﷺ په خپل لاس باندې قبر ته ورښکته کړه او په المعلاة (دمکې مکرمې لويه هديره) کې خاورو ته و سپارل شوه (الله ① دې په جنت کې ددې مرتبې لوړې کړي) په کوم کال باندې چې دا وفات شوه رسول الله ﷺ ډېر زيات خفه وو يو خو د کفارو ظلمونه زيات وو او د رسول الله ﷺ تره ابو طالب هم په همدې کال مړ شو او دې کال ته عام الحزن (دغم کال) ويل کېدو .
حضرت خديجة رضی الله تعالی عنها وفات شوه لکن د رسول الله ﷺ له زړه نه ونه وتله او د هغې مبارکې نه وروسته يې نورې بيبيانې هم وې لکن يوه هم دده ﷺ په زړه کې هغه ځای ته ونه رسېده کوم ځای ته چې حضرت خديجة رضی الله تعالی عنها رسېدلې وه .
حضرت عايشه رضی الله تعالی عنها فرمايي رسول الله ﷺ به حضرت خديجة رضی الله تعالی عنها ډېره

زیاته یادوله یوه ورځ په ما ښه ونه لګېده نو مې ورته وویل : هغه خو یوه بوډۍ کونډه وه اوس الله ① تاته له هغې نه ښې درکړې .

رسول الله ﷺ غصه شو او ویې ویل : نه زما د په الله ① قسم وي له هغې نه یې ښې نه دي راکړې هغې په داسې وخت کې په ما باندې ایمان راوړ چې خلکو کفر وکولو ، هغې زما تصدیق په داسې وخت کې وکولو چې خلکو زما تکذیب وکولو، دې په خپل مال سره زما مرسته وکوله پداسې وخت کې چې خلکو زه له هرشي نه محروم کړی وم او د هغې نه الله ① ماته اولاد راکړی وو

# أم المؤمنين حضرت سوده بنت زمعة (رض)

أم المؤمنين سوده بنت زمعة بن قيس القرشية العامرية رضی الله تعالى عنها د رسول الله ﷺ دوهمه بي بي ده د لوړ نسب ښځه وه مور يې الشموس بنت قيس بن زيد الانصارية وه د بني عدي بن النجار له قبيلې څخه وه مالک بن زمعة يې ورور وو .

د لوړې مرتبې لرونکې بي بي وه د رسول الله ﷺ نه وړاندې يې د سهيل بن عمرو العامري ❽ د ورور السکران بن عمرو سره واده کړی وو د اسلام په سر کې په اسلام مشرفه شوې وه د رسول الله ﷺ سره يې بيعت کړی وو کله چې په مسلمانانو باندې د کفارو ظلمونه زيات شول رسول الله ﷺ حبشې ته د هجرت اجازه وکوله دا هم په غربت کې لکن د اسلام د سرمايې سره د خپل خاوند په ملګرتيا حبشې ته روانه شوه کله چې بېرته را وګرځېدل نو خاوند يې په داسې حالت کې ترينه وفات شو چې دا يې ډېرو تکليفونو او زحمتونو ته پرېښوده او صرف يو پلار يې همدرد وو هغه هم سپين ږيری وو .

دا چې کله په حبشه کې وه خپل خاوند ته يې ويل خوب مې ليدو چې زه په خپل ځای ناسته وم تکيه مې کړې وه سپوږمۍ له اسمان څخه را بانديې را وغورځېده خاوند يې ورته ويل والله که دا خوب د رښتيا شو زه به زر مړ شم او لما څخه به وروسته به ته واده وکوې له هماغه ورځې نه يې خاوند بيمار شو او بيماري يې سخته شوه تردې چې وفات شو .

حضرت خولة بنت حکيم د حضرت عثمان بن مظعون مېرمن د رسول الله ﷺ سره خبرې کولې او ورته ويل يې : يا رسول الله ﷺ داسې ښکاره کيږي چې ته د حضرت خديجې په جدايي ډېر زيات خفه يې؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هو ، د وړو مور وه، د کور ساتونکې او ترتيب کونکې وه)

بيا حضرت خوله رضی الله تعالی عنها ورته وفرمايل : داسې يو کس ته ضرورت دی چې د رسول الله ﷺ د کور ترتيب ورته جوړ کړي او داسې څوک وي چې د حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها پالنه هم وکوي او مشوره يې ورته ورکړه چې د سودة بنت زمعة سره که واده وکوي دا يو ښه اقدام دی هغه ښکلې هم ده او د ډېرو ښو صفاتو مالکه ده او د هغه کسانو څخه هم ده چې د اسلام په سر کې په اسلام مشرفه شويده او په رسول الله ﷺ باندې خپل ځان قربان کولو ته هم تياره ده دې دا خبرې لا

ختمې کړې نه وې چې رسول الله ﷺ يې خبره ور پرې کړه او ورته يې وويل زه د هغې رضى الله تعالى عنها سره واده کولو ته تيار يم او پدې وخت کې له پخواني خاوند نه د حضرت سودة بنت زمعة رضى الله تعالى عنها شپږ زامن وو رسول الله ﷺ د حضرت سودة رضى الله تعالى عنها سره واده وکولو واده يې د نبوت په لسم کال د روژې په مياشت کې وو څلور سوه درهمه يې ورته په مهر کې ورکړل او بيا مدينې منورې ته يې ورپسې هجرت هم وکولو .

حضرت سودة رضى الله تعالى عنها په خپله زمانه کې له هغو ښځو څخه وه چې په پاکي او بهتري او عفت کې يې يو خاص نوم درلود په خپله خوښه يې اسلام قبول کړو د حبشې لور ته يې د هجرت فضيلت هم تر لاسه کړو رسول الله ﷺ ورسره واده وکولو او هغه ته هم د هغو بيبيانو له جملې څخه وه چې ده ته ډېره ګرانه وه د رسول الله ﷺ نه يې ډېر احاديث نقل کړي دي او مشهورو صحابه وو ﷺ ورڅخه روايات کړي دي الله ① ورته اوږد لاس ورکړى وو او ډېره زياته صدقه به يې کوله .

يوه شپه يې په رسول الله ﷺ پسې مونځ کولو رسول الله ﷺ هغه مونځ اوږد کړو تردې چې د اوږدوالي له امله پدې مبارکه رضى الله تعالى عنها باندې

لږ سخت شو سبا يې بيا رسول الله ﷺ ته وويل د شپې مې چې مونځ درپسې کولو دومره اوږده رکوع د راباندې وکوله چې ما خپله پوزه کلکه ونيوله هسې نه چې وينه ترې روانه شي رسول الله ﷺ ورته وخندل .

او هروخت به بيبيانو ددې سره ټوکې کولې او د ټولو مېرمنو سره ډېره مهربانه وه هرې يوې به غوښتل چې ددې سره خبرې وکوي يوه ورځ چې رسول الله ﷺ کور ته ننوتلو حضرت عائشې او حضرت حفصې رضی الله تعالی عنهما خندل رسول الله ﷺ ورځخه پوښتنه وکوله ولې خاندئ ؟ دوی ورته وويل مونږ د حضرت سودة رضی الله تعالی عنها سره ټوکه وکوله چې قيامت را نېږدې شو دجال را وتلی دی دې منډې کړې او په کور کې دننه کوټې ته ننوتله او هلته پټه شويده .

رسول الله ﷺ ورپسې هماغه کوټې ته ورغلو دې وربانديې اواز وکولو رښتيا دجال را وتلی دی؟

رسول الله ﷺ ورته فرمايل : نه را وتلی نه دی لکن نېږدې دی چې را ووزي ددې زړه مطمئن شو او وېره ترې لاړه بېرته له هغه کوټې څخه را ووتله او له ځان څخه يې د عنکبوت (غڼو) تارونه لرې کول .

د رسول الله ﷺ خوشحالي يې په هر قيمت سره اخستله او چې کله به خبره شوه چې په کوم شي کې د رسول الله ﷺ رضا ده هغه به يې حاصلول حتى تردې چې کله پدې پوه شوه چې د رسول الله ﷺ زړه ډېر وخت د عائشې رضى الله تعالى عنها سره تېرول غواړي لکن د عدل او انصاف د تقاضې د پوره کولو لپاره يوه شپه زما کوټې ته راځي نو يې رسول الله ﷺ پدې خبره زيات خوشحال کړو چې ورته يې وفرمايل : قد جعلت يومي منک لعائشه يعني زه لتاسره خپل نوبت ورځ عائشې ته ورکوم او ددېنه وروسته به رسول الله ﷺ عائشې ته په خپلو ورځو کې دوه ورځې ورکولې يوه به يې خپله وه او يوه به د سوده رضى الله تعالى عنها ورځ وه .

د حضرت عمر ❽ په زمانه کې حضرت عمر ❽ په هغه وخت کې د رسول الله ﷺ ژوندۍ بيبيانې حج ته بوتلې او چې کله يې دېته وويل حج ته ځو دې رضى الله تعالى عنها ورته وويل : ما د رسول الله ﷺ سر عمره او حج کړي دي اوس د الله ① د حکم مطابق صرف په کور کې کېناستل غواړم او په هماغه کور کې وه بالکل بهر ته وتل يې نه خوښول تردې چې د هجرت په ٥٤ کال باندې د معاوية بن ابي سفيان د خلافت په زمانه کې وفات شوه او د خپل

ټول کورپه ا ړه یې حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته وصیت وکولو .

الله ① دې په جنتونو کې زمونږ د ټولو مسلمانو میندو سره مرتبې لوړې کړي .

# أم المؤمنين حضرت عائشة رضى الله تعالى عنها

نسب يې

پلار يې : أبو بكر عبد الله بن أبي قحافة عثمان بن عامر بن عمرو بن كعب بن سعد بن تيم بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور يې : أم رومان بنت عامر بن عويمر بن عبد شمس بن عتاب بن أذينة بن سبيع بن دهمان بن الحارث بن غنم بن ثعلبة بن مالك بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

د رسول الله ﷺ سره يې نكاح تر هجرت يو كال وړاندې وشوه او تر هجرت وروسته يې واده وشو لويه عالمه او زاهده ښځه وه د رسول الله ﷺ په عمر كې يې قرآن كريم حفظ كړو او د رسول الله ﷺ څخه يې ٢٢١٠ دوه زره دوه سوه لس حديثونه روايت كړي دي .

رسول الله ﷺ حضرت عائشې رضى الله تعالى عنها ته فرمايل ستا سره له نكاح وړاندې مې درى ځله ته په خوب كې وليدې خوب مې ليدو چې ملائكې به

په وربښمي جامه کې پټه ښځه ماته را وستله راته به یې وویل دا ستا مېرمن ده ما به چې هغه وکتله ته به وې نو ما بیا وویل څه که دا خوب د الله ① له لوري څخه وي نو همداسې به کیږي .

یوه ورځ چې حضرت خوله رضی الله تعالی عنها رسول الله ☸ ته راغله ورته ویل یې زه ستا لپاره عائشه رضی الله تعالی عنها وغواړم؟ رسول الله ☸ ته مخکنی خوب ور په یاد شو او مخ یې له خوشحالۍ نه رڼا وکوله چې له یوه لوري نه حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها دده کور ته راځي او له بله پلوه په ټوله دنیا کې د رسول الله ☸ په وړاندې د غوره انسان سره به دده د خپلوي تعلق جوړ شي او حضرت خوله رضی الله تعالی عنها ته یې وویل چې ته دا کار کول غواړې نو ښه خبره ده .

حضرت خولة رضی الله تعالی عنها ورغله د حضرت ابو بکر صدیق ❽ کور ته او هغوی ته یې وویل : الله ① په تاسې باندې څه خیر او برکت نازل کړی دی؟ د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها مور ورته وویل : هغه څنګه ؟

دې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : رسول الله ☸ ستاسې لور عائشه رضی الله تعالی عنها غواړي .

د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها مور ورته هو ونه ویل بلکه ورته یې وویل : اوس ابو بکر راتلونکی دی زه غواړم تر هغه پورې صبر وکوم کله چې حضرت ابو بکر صدیق ❽ راغلو نو ورته یې وفرمایل : څه خیر او برکت الله ① ستاسې کور ته را نازل کړی دی؟ زه رسول الله ☸ را لیږلې یم چې ستاسې لور عائشه رضی الله تعالی عنها د هغه ☸ لپاره وغواړم .

حضرت ابو بکر صدیق ❽ وفرمایل : رسول الله ☸ خو زما ورور دی او عائشه خو د رسول الله ☸ وریره ده دا نکاح دده ☸ لپاره صحیح ده؟

حضرت خولة بېرته رسول الله ☸ ته ستنه شوه او د حضرت ابو بکر صدیق ❽ خبره یې ورته وکوله .

رسول الله ☸ ورته وویل : ورشه ورته ووایه چې زه او ته په اسلام کې سره ورونه یو او هغه په نسبي ورور ګلوي کې نه صحیح کیږي په اسلامي ورور ګلوي کې صحیح ده .

حضرت خولة رضی الله تعالی عنها بېرته د حضرت ابو بکر صدیق ❽ کور ته راغله او دلته د یو څه خبرو وروسته یې بیا ورته وویل ورشه رسول الله ☸ دلته را وغواړه .

رسول الله ﷺ د دوی کور ته راغلو او حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها یې په نکاح ورکړه او د دیني قرابت نه وروسته نسبي قرابت هم حاصل شو .

کله چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکولو انصار او مهاجرین صحابه رضي الله عنهم را ټول شوي وو او د هغوی ښځې هم را ټولې وې ، فضا خندل او هرې خوا ته د خوشحالی فضاء وه د حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه د کور نه یو بهترین مخلوق د سید المخلوقات کور ته نقل کیږي او حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها د ښکلې ناوې په شکل کې تیاره کړل شوه پداسې حالت کې چې مور یې حضرت أم رمان رضی الله تعالی عنها ورسره وه د رسول الله ﷺ کوټې ته ور ننوتل او رسول الله ﷺ ته یې وویل : دا ستاسې اهل دی الله ① د تاته پکې برکت واچوي دا شپه د حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه په کور کې تېره شوه چې په بني الحارث بن الخزرج کې وو بیا رسول الله ﷺ هغه کوټې ته بوتله چې د جومات سره په خوا کې دده ﷺ لپاره جوړه کړل شوې وه .

یوه ورځ رسول الله ﷺ ته حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها وویل : زما سره ستا مینه څه ډول ده؟ ده ﷺ ورته وویل لکه په رسۍ کې کلکه غوټه کله

کله به یې بیا تري پوښتنه کوله : هغه غوټه اوس څنګه ده؟ ده ﷺ به ورته ویل : لکه څنګه چې وه هماغسې ده .

حضرت عبد الله بن عباس ❽ حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته ویل : ته ډېره بختوره یې رسول الله ﷺ ته په ټولو بیبیانو کې ته ډېره ګرانه وې او د رسول الله ﷺ صرف پاک شیان خوښېدل او کله چې په ابواء کې ستا لاکټ ورک وو رسول الله ﷺ په هغه پسې ګرځېدو چې پیدا یې کړي د مانځه وخت شو د اوداسه اوبه نه وې نو الله ① د تیمم حکم را نازل کړو او د ا رخصت د ټول امت لپاره یو رحمت وو او وجه یې ته وې .

کله چې څو کسانو درواغجنو ستا په اړه د درواغو ډنډوره خپره کړه الله ① تر اوو اسمانونو لپاسه ستا پاکي را نازله کړه اوس په هر جومات کې به ستا د پاکي آیتونه شپه او ورځ تلاوت کیږي .

دې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : ای ابن عباس پرېږده دا ستاینه زه دا غواړم چې کاش بالکل له خلکو څخه هېره شوې وای او چا ته هم نه ور په زړه کېدلی .

حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها رسول الله ﷺ ته فرمایل : ما ته ولیدلې چې ولاړ وې د دحیة الکلبي سره دې خبرې کولې .

رسول الله ﷺ ورته وویل : تا هغه ولید؟ دې رضی الله تعالی عنها ورته وویل هو ما هغه ولید رسول الله ﷺ ورته و فرمایل هغه جبریل ؑ وو تاته یې سلام ویل : دې ورته وویل وعلیه السلام الله ① دې ده ؑ ته اجر ورکړي .

د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها د بخت ځنې وه چې دا په ډېر ورکتوب کې د رسول الله ﷺ په ملګرتیا مشرفه شوې وه او څرنګه چې په ژوند کې هغه د زده کړې وخت وي نو د رسول الله ﷺ څخه یې ډېر څه زده کړل او لویه عالمه ګڼل کیږي ددې د علمیت په اړه امام زهري فرمايي چې حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها ډېره لویه عالمه وه که چېرته د ټولو نورو بیبیانو او د دنیا د ښځو علم را ټول کړل شي او ددې رضی الله تعالی عنها د علم سره مقایسه کړل شي نو د حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها علم وربانديې بیا هم زیاتیږي .

حضرت ابو موسی اشعري رحمه الله فرمايي : کله به چې مونږ ته کوم مشکل را مخې ته شو چې زمونږ سره به یې حل نه وو نو د رسول الله ﷺ د بي بي

حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه به مو پوښتنه وکوله د هغې رضی الله تعالی عنها سره به پدې اړه معلومات وو .

حضرت عروة ❽ یې خوریی وو هغه وایي چې ما حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته وویل :

دا چې ته لویه فقیهه یې او په علم فقه کې په زړه پورې مهارت لرې دا څه ډېره عجیبه نه ده د رسول الله ☸ بي بي وې او د حضرت ابي بکر صدیق ❽ لور وې هغه هم لوی فقیه عالم وو لکن دا چې په علم الطب کې مهارت لرې دا د حیرانتیا خبره ده دا تا له کومه ځایه زده کړو .

دی وایي حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ماته وویل : ای عروه کیه تاته نه ده معلومه چې رسول الله ☸ د عمر په آخر کې بېمار کېدو ما به پوښتنې کولې او بیا به ما د هغه ☸ علاج پخپله کولو ددې امله الله ① ما ته په علم الطب کې مهارت راکړو .

ابن قیم رحمه الله د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها څو خصوصیتونه را ټول کړي چې په لاندې ډول دي :

۱. رسول الله ☸ ته په ټولو بیبیانو کې دا ډېره ګرانه وه لکه په صحیحینو کې چې ثابته ده له رسول الله ☸ څخه پوښتنه وشوه چې په ټولو

خلکو کې تاته څوک ډېر ګران دي ؟ ده ☸ و فرمایل : عائشه رضی الله تعالی عنها چا ورته وویل : په سړیو کې ؟ ده ☸ ورته و فرمایل : پلار یې .

۲. سورة التحریم مکمل ددې او د حضرت حفصې رضی الله تعالی عنهما له امله نازل شوی دی .

۳. د رسول الله ☸ په ژوند کې یوازې دا بي بي رضی الله تعالی عنها وه چې د پېغلتوب نه له ده ☸ سره وه او نورې بيبيانې ټولې کونډې وې چې رسول الله ☸ ورسره نکاح کوله د رسول الله ☸ څخه وړاندې ابو بکر صدیق ❽ ددې د نکاح ژبه د مطعم بن عدي سره کړې وه چې د هغه زوی جبیر بن مطعم ته به یې ورکوي لکن کله چې رسول الله ☸ و غوښته نو مطعم ته یې عذر وویلو او دا یې رسول الله ☸ ته ورکړه .

٤. یوازې حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وه چې کله به رسول الله ☸ له دې سره په یو ځای کې وو نو په ده باندې به وحی راتله د نورو بيبيانو سره په رسول الله ☸ باندې وحی نه راتله .

٥. کله چې د رسول الله ☸ بيبيانو ته د اختیار آیت نازل شو او دوی ته یې اختیار

ورکړو که تاسې غواړئ چې د رسول الله ﷺ سره په همدې ژوند کې وخت تېر کړئ او که غواړئ نو رسول الله ﷺ به تاسې ته طلاق درکړي نو اول دېته وويل شول چې د خپل مور پلار سره پدې اړه مشوره وکوي نو دې مبارکې وويل : ولې پدې کار کې د مشورې څه ضرورت دی زما د رسول الله ﷺ سره همدا ژوند خوښ دی بیا ټولو بیبیانو د همدې رضی الله تعالی عنها خبره تائید کړه .

٦. کله چې پدې پسې درواغ وويل شول نو الله ① یې برائت په قرآن کریم کې نازل کړو او ددې په صفایې باندې یې ١٠ آیتونه نازل کړل چې تر قیامت پورې به تلاوت کیږي او ددې سره یې د رزق کریم وعده وکوله او په هغه آیتونو کې دېته طیبه ویل شوي دي پاکه ګڼل شوېده .

٧. د مشرانو صحابه وو په مخ کې به چې څه مشکل راغلو نو دې رضی الله تعالی عنها ته به د پوښتنې لپاره ورغلل لدې رضی الله تعالی عنها سره به یې ځواب پیدا کړو .

٨. رسول الله ﷺ ددې په کوټه کې پداسې حالت کې وفات شو چې سر یې ددې په غېږ کې ایښی وو .

٩. مخکې له نکاح نه ملائکې رسول الله ﷺ ته په خوب کې پټه ور ښکاره کړې وه چې رسول الله ﷺ یې مخ ورباندې لوڅ کړی وو نو هغه دا وه بیا رسول

الله ﷺ فرمايلي وو كه دا خوب د الله ① له لوري نه وي نو رښتيا به شي .

حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها ماشومه وه چې د رسول الله ﷺ سره يې نكاح شوې وه او كله به چې رسول الله ﷺ د دوى كور ته ورغلو مور ته به يې ويل اى أم رمان زه درته د عائشې په اړه وصيت كوم چې دا مه خفه كوه او ښه رويه ورسره كوه .

حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها فرمايي : رسول الله ﷺ زمونږ كور ته راغلو ما د نورو ماشومانو سره په كوم شي باندې لوبې كولې ده ﷺ راڅخه پوښتنه وكوله عائشې دا څه شی دي؟ ما ورته وويل دا د حضرت سليمان آس دى بيا رسول الله ﷺ راته وخندل .

له امام مسروق نه روايت د ى چې حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها فرمايي ما رسول الله ﷺ وليدو چې د يو كس سره يې خبرې كولې چې په آس باندې سپور وو او رسول الله ﷺ په پښو باندې ورته ولاړ وو كله چې راغلو ما ترې پوښتنه وكوله دا تا له چا سره خبرې كولې؟ ده ﷺ راته وويل تا هغه كس وليدو؟ ما ورته وويل هو يا رسول الله ﷺ بيا رسول الله ﷺ راڅخه پوښتنه وكوله په شكل كې چا ته پاتې كېدو؟ ما ورته وويل دحية الكلبي

ته بیا رسول الله ﷺ راته وویل : تا ډېر لوی خیر ولیدو دا حضرت جبریل ؑ وو بیا لږ وخت نه وو تېر چې رسول الله ﷺ ماته وویل : ای عائشې دا جبریل تاته سلام وایي ما ورته وویل وعلیکم السلام الله دې ده ته اجر ورکړي .

حضرت هشام بن عروه له خپل پلار نه روایت کوي چې هغه ؓ فرمایل : حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ماته وویل خوریه ماته رسول الله ﷺ ویل کله چې ته غصه وې او یا خوشحاله وي زه درباندې پوهېږم ما ورته وویل په څه را باندې پوهېږې؟ ده ﷺ راته ویل کله چې ته خوشحاله وې او قسم کول غواړې نو ته وایې لا ورب محمد او کله چې ته غصه وې بیا چې قسم کول غواړې نو ته وایې لا ورب ابراهیم .

ما ورته وویل : رسول الله ﷺ تا رښتیا وویل .

بي بي رضی الله تعالی عنها د علم او تقوی خزانه وه د هجرت په ۵۷ یا ۵۸ یا ۵۹ کې د ٦٧ کلونو په عمر کې وفات شوه (اختلاف د روایاتو دی) د سه شنبې ورځ وه د رمضان اولسم وو د جنازې مونځ یې د شپې د وترو څخه وروسته حضرت ابو هریره ؓ وکولو .

# أم المؤمنين حضرت حفصه بنت عمر الفاروق ❽

نسب يې

د پلار له اړخه : حفصة بنت الفاروق عمر بن الخطاب بن نفيل بن عبد العزى بن رياح بن عبد الله بن قرط بن رزاح بن عدي بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور يې محترمه صحابية وه : زينب بنت مظعون بن وهب بن حبيب بن حذافة بن جمح بن عمرو بن هصيص بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

حضرت حفصه رضی الله تعالى عنها د رسول الله ☸ نه وړاندې د حضرت خنيس بن حذافه السهمي په نكاح كې وه دا هم جليل القدر صحابي وو د دوو هجرتونو شرف يې حاصل كړی وو په بدر كې حاضر وو په اُحد كې زخمي شو د يوڅه وخت تكليف وروسته په حق ورسېدو او حضرت حفصة رضی الله تعالى عنها په ځوانۍ كې كونډه شوه چې د شلو كلونو په عمر كې وه حضرت عمر ❽ به چې خپله لور په ځوانه ځوانۍ كې كونډه ليده نو زيات به

پـرې خفـه کېدو او ددې غمونـه يـې هر وخت پـه زړه بـانـدې پـراتـه وو او پـدې فـکـر کـې وو چې دا ځوانـه ده مـنـاسبـه خـو نـه ده چې دا همداسې يـوازې پـاتـې شي او فـکـر يـې کـاوه چې پـدې اړه څـه وکـوي څوک بـه ددې د لـور راتـلـونـکـی خـاونـد وي حضرت عـثـمـان ❽ پـدې وخت کـې پـه واده پـسې ګـرځېدو لـکـن اوس هغـه هم ويـل چې دی اوس واده نـه کـول غـواړي رسـول الله ﷺ چې د ټـول امت مـهـربـان مـشـاور وو حضرت عـمـر ❽ ورسره دا مـشـوره وکـولـه چې څـه بـه کـيـږي او رسـول الله ﷺ تـه يـې هم حضرت عـثـمـان ❽ يـاد کـړو چې دی هم پـه واده پـسې ګـرځېدو او اوس وايـي چې زه واده نـه کـول غـواړم رسـول الله ﷺ ورتـه ويـل : تـه فـکـر مـه کـوه د حفـصې واده بـه لـه داسې چـا سره وشي چې هغـه تـر عـثـمـان غـوره وي او د عـثـمـان واده بـه لـداسې چـا سره وشي چې تـر حفـصې رضی الله تـعـالـی عـنـهـا غـوره وي (د رسـول الله ﷺ مـطـلـب دا وو چې د حفـصې واده بـه د رسـول الله ﷺ سره وشي چې تـر عـثـمـان غـوره دی او د عـثـمـان واده پـه د رسـول الله ﷺ د لـور سره وشي چې تـر حفـصې غـوره ده ) لـکـن څرنـګـه چې حضرت عـمـر ❽ غـمـونـو او فـکـرونـو پـسې را اخيـستی وو او غـمـونـو يـې دمـاغ نـه پـرېښودل چې کـنـايـي خبـرو تـه نـنـوزي نـو ددې خبـرې پـه مـطـلـب پـوه نـه شـو د رسـول الله ﷺ پـه ډاډګـېـرنـه يـې يـو څـه

تسکین وشو لکن بیا هم په زړه یې بو ج وو یوځه وخت چې تېر شو رسول الله ﷺ هغه وغوښته حضرت عمر ❽ د رسول الله ﷺ پدې اقدام زیات خوشحال شو او حضرت حفصه رضی الله تعالی عنها یې ورکړه .

او رسول الله ﷺ دې مبارکې ته څلور سوه درهمه مهر ورکړو حضرت عمر ❽ خوشحال وو چې د رسول الله ﷺ سره یې د نسب تعلق هم پیدا شو او له بله پلوه یې لور بي بي په خیر الخلائق باندې واده شوه چې دوی دداسې نېکبختي په اړه هېڅ فکر هم نه وو کړی .

حضرت حفصة رضی الله تعالی عنها هغه بي بي وه چې لیکل یې زده وو او په اسلام کې د اولې استاذې حضرت شفاء بنت عبد الله رضی الله تعالی عنها څخه یې زده کړي وو .

د حضرت حفصة رضی الله تعالی عنها په ژوند کې د ډېرې زیاتې ستاینې وړ خبره دا ده چې د قرآن کریم په ساتنه کې یې مهم رول لوبولی دی کله چې د حضرت ابو بکر ❽ په زمانه کې قرآن کریم ولیکل شو او بیا حضرت ابو بکر صدیق ❽ وفات شو نو دا لیکلی قرآن کریم د حضرت عمر ❽ سره وو د یوځه وخت نه وروسته بیا حضرت حفصې رضی الله تعالی عنها ته حواله شو او دې یې په ساتنه

کې ډېره خواري کوله او په ښه طریقه سره یې ساتلی وو کله چې دحضرت عثمان ❽ زمانه شوه د قرآن کریم نسخه یې ترې وغوښته او وعده یې ورسره وکوله چې بېرته یې درکوم حضرت حفصې رضی الله تعالی عنها قرآن کریم ورکړو حضرت عثمان ❽ وکتلو او خلک یې وربانديې را ټول کړل او دوی ته یې امر وکولو چې ترینه ویې لیکي د خلکو له لیکلو وروسته یې اصلي نسخه بېرته حضرت حفصې رضی الله تعالی عنها ته حواله کړه .

یو وخت چې د څه کورنیو خبرو له امله رسول الله ☸ وغوښتل چې حفصه رضی الله تعالی عنها ته طلاق ورکړي حضرت جبریل ⌛ ورته راغلو ورته یې وویل : دا مه طلاقه کوه دا روژه نېونکې او د شپې مونځ کونکې ده او په جنت کې ستا بي بي ده .

حضرت حفصة رضی الله تعالی عنها ډېره تیز ذهن لرونکې او په خبره باندې پوهېدونکې ښځه وه کله چې د بدریانو په اړه او د بیعة الشجرة د شریکانو په اړه آیتونه نازل شول چې دوی بښل شوي دي نو دې راساً د رسول الله ☸ نه پوښتنه وکوله چې دا آیت خو ددې آیت سره ټکر شو و ان منک الا واردها .... (په تاسې کې به هرڅوک یو ځل دوزخ ته ورځي) ... بیا رسول الله ☸ ورسره خبرې وکولې او دا یې په حقیقت پوه کړه او تر


هغه وخته یې دې مبارکې ته تشریح کوله چې ددې ذهن وربانديې خلاص شو او ددې تسکین وشو .
حضرت حفصة ❽ د هجرت په ٤١ کال په مدینه منورة کې وفات شوه او په بقیع کې خاورو ته وسپارل شوه .

# أم المؤمنین حضرت زینب بنت خزیمة (رض)

زینب بنت خزیمة بن عبد الله بن عمر بن عبد مناف بن هلال بن عامر بن صعصعة الهلالیــة د حضرت أم المؤمنین حضرت میمونة بنت الحارث رضی الله تعالی عنها د مور لخوا خور وه د بعثت څخه دیارلس کاله وړاندې پیدا شوې وه .
د حضرت عبد الله بن جحش سره یې واده شوی وو کله چې هغه مبارک ❽ د اُحد په غزا کې په شهادت ورسېدو دا یې په غم باندې زیاته غمجنه وه او د خپلې راتلونکې په اړه به یې مختلف فکرونه کول چې کله یې عدت تېر شو د رسول الله ☸ له لوري نه ورته د نکاح دعوت راغلو او دا چې په راتلونکې کې به دا دده مبارک ☸ بې بې وي نو دا ډېره زیاته خوشحاله شوه او قاصد ته یې وویل چې رسول الله ☸ ته ووایي (زما اختیار

ستاسې په لاس کې دی)  رسول الله ﷺ د هجرت په دريم کال د رمضان په مياشت کې ورسره واده وکولو او د رسول الله ﷺ سره يې صرف آته مياشتې تېرې کړې بيا بيماره شوه او د هجرت په څلورم کال د ربيع الثاني په مياشت کې د دېرشو کلونو په عمر کې وفات شوه (الله ① يې دې د ټولو مسلمانو ميندو سره درجې لوړې کړي) .

لدې امله چې ددې ❽ موده له رسول الله ﷺ سره لنډه وه نو د سيرت په کتابونو کې ددې مباركې ډېر تفصيلي احوال نه پيدا کيږي لکن پدې کې يو صفت ډېر په پوره پيمانه پروت وو چې په غريبانو باندې به يې زيات مصرف کولو او ددې امله دېته أم المساکين ويل کيږي .



# أم المؤمنين حضرت أم سلمة رضی الله تعالی عنها

نسب يې

پلار يې د قريشو يو مخور سړی وو نوم يې : أبو أمية حذيفة بن المغيرة بن عبد الله بن عمر بن مخزوم بن يقظة بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان وو.

او مور يې : عاتكة بنت عامر بن ربيعة بن مالك وه .

د رسول الله ﷺ څخه وړاندې دې خپل تره د زوی ابو سلمة په نكاح كې وه د هغه نوم عبد الله بن عبد الاسد بن هلال بن مخزوم القرشي وو د هغه صحابه وو له جملې نه وو چې د اسلام له امله يې ډېر تكليفونه په غاړه اخيستي وو د رسول الله ﷺ د عمه زوی وو مور يې برة بنت عبد المطلب وه دې مباركې د خپل خاوند سره په يوځای حبشې ته هجرت وكولو دا مباركه رضی الله تعالی عنها فرمايي كله چې مونږ حبشې ته ورسېدو هلته مو د ښو خلكو سره د هستوګنې ځای پيدا كړو ګاونډيانو مو را سره ښه رويه كوله او په مونږ باندې د هېچا هم څه كار نه وو چې مونږ په كوم

دین باندې روان یو او کوم دین مو غوره کړی دی .

کله چې مدینې منورې ته د هجرت لاره خلاصه شوه او رسول الله ﷺ پخپله هم مدینې منورې ته تشریف یوړو نو دوی هم مدینې منورې ته هجرت وکولو دا مبارکه رضی الله تعالی عنها پخپله د هغه هجرت قصه کوي او فرمایي :

کله چې زما خاوند ابو سلمة اراده وکوله چې مدینې منورې ته هجرت وکوي اوښ یې راوستلو او زه یې وربانده سپره کړم سلمة بن ابي سلمة پدې وخت کې زما په غېږ کې وو روان شو اوښ یې تر پړي ونیولو چې د بني المغیرة (زما د پلار د کورنۍ) خلکو ولیدو نو په مخه کې ورته و دریدل ورته ویل یې دا ته چې په خپله چېرته ځې نو ته تلی شي او دا ملګرې دې؟ مونږ تاته ولې اجازه درکړو چې ستا خوښه دا په ملکونو باندې ګرځوه هرچېرته چې ستا خوښه وي ته به دا له ځان سره بوزې ؟ دوی د اوښ پړی زما د خاوند له لاس نه واخیستو او زه یې هم د ده نه وګرځولم پدې وخت کې زما د خاوند کورنۍ (بنو عبد الاسد) خبر شول هغوی راغلل او زما د پلار د کورنۍ خلکو ته یې ویل : چې تاسې خپله ښځه ګرځوئ نو دا زمونږ ماشوم خو مونږ نه پریږدو چې لتاسې سره وي نو زما ماشوم زوی یې هم له ما څخه واخیستو او روان یې کړو زه یوازې د

پلار په کور کې پاتې شوم او خاوند مې لاړو مدينې منورې ته او ماشوم زوی مې بنو عبد الاسد په خپله کورنۍ کې وساتلو زه به هر سحر را وتلم او ابطح نومي ځای کې به کېناستلم ژړل به مې تردې چې يو کال او يا دېته نېږدې عمر مې همداسې په ژړا کې تېر کړو تردې چې زمونږ د کورنۍ بني المغيرة يو کس زما په خوا کې تېرېدلو په ما باندې چې کوم حالت وو ويې ليدلو هغه زما په حالت باندې خفه شو او په ما باندې مهربان شو د بني مغيرة خلکو ته يې وويل : دا مسکينه او غريبة تاسې د خپل خاوند او خپل ماشوم زوی نه جدا ساتلې ده دا پرېږدئ چې لاړه شي ... بيا هغوی ماته د تلو اجازه راکړه او بنو عبد الاسد چې وليدل ماته د خپلې کورنۍ له لورې نه ازادي راکړل شوه نو هغوی هم خپل ماشوم ماته را وګرځولو او رايې کړو .

خپل ماشوم زوی مې په غېږ کې واخيستو په اوښ سپره شوم او د خپل خاوند په طلب کې مدينې منورې ته په داسې حالت کې ووتلم چې د الله ① په مخلوق کې هېڅوک هم لما سره ملګري نه وو کله چې تنعيم ته ورسېدم د عثمان بن طلحة بن ابي طلحة سره مخامخ شوم هغه راته وويل : چېرته ځې ای بنت ابي أمية ؟ ما ورته وويل : ځم په مدينه منوره کې مې خاوند دی په هغه پسې ورځم .

ده راته وویل څوک درسره نشته؟
ما ورته وویل نه بس یو الله ① راسره دی او بل مې دا زوی کې دی .
هغه را وړاندې شو او د اوښ پړی یې په لاس کې ونیولو او تر مخ مې روان شو دا رضی الله تعالی عنها فرمایي په عربو کې ما دده څخه د عزت سړی نه وو لیدلی کله به چې مونږ کوم منزل ته ورسېدو اوښ به یې ما ته چو کړو (کېنولو) دی به رانه لرې لاړو او بېرته به چې د سپرېدلو وخت شو نو هغه به لرې لاړو کله به چې زه په اوښ سپره شوم بیا به را نېږدې شو او اوښ به یې پاڅولو بیا به روان شوو په همدې ډول مو سفر جاري وو تردې چې زه یې مدینې منورې ته ورسولم کله یې چې د بني عمرو بن عوف کلي ته وکتل په قباء کې ویې ویل ستا خاوند پدې کلي کې دی څه د الله ① په نوم دې کلي ته ور ننوزه خاوند به دې پیدا شي او دی له همدې ځای نه بېرته مکې مکرمې ته ستون شو او بي بي به هروخت ویل : د ابو سلمه د اهل نه زیات تکلیف به کوم اهل په اسلام کې نه وي تېر کړی او د عثمان بن طلحة نه ما عزتمن څوک ندي لیدلي .
حضرت ابو سلمة ❽ په بدر کې حاضر وو په اُحد کې یې هم تشریف درلود هلته زخمي شو د هغه زخم نه ډېر تکلیف شو او په شهادت ورسېدو د هجرت په دریم کال د جمادي الثاني په میاشت کې .

حضرت أمي سلمة رضی الله تعالی عنها فرمايي : ابو سلمة يوه ورځ د رسول الله ﷺ نه راغلو ويل يې ما د رسول الله ﷺ نه يوه خبر واوريده وربانديې خوشحال شوم .

رسول الله ﷺ ويل : کوم مسلمان ته چې مصيبت ورسيږي بيا ووايي : ای الله ماته زما په مصيبت کې اجر راکړه او ددې نه ماته غوره شی راکړه نو بيا په رښتيا سره همداسې کيږي .

حضرت أم سلمة رضی الله تعالی عنها فرمايي ما دا کلمې د حضرت ابو سلمة ❽ څخه يادې کړې .

کله چې ابو سلمة ❽ وفات شو ما انا لله و انا اليه راجعون وويل او بيا مې وويل : ای الله① ماته زما په مصيبت کې اجر راکړه او ددې نه ماته غوره شی راکړه بيا مې له خپل ځان سره وويل : د ابي سلمة نه به غوره چېرته پيدا شي؟

کله مې چې عدت تېر شو يوه ورځ په کور کې لګيا وم يوه څرمن مې صفا کوله چې رسول الله ﷺ کور ته د راتلو اجازه وغوښته زر پاڅېدم لاسونه مې ووينځل او ده مبارک ﷺ ته مې د راتلو اجازه ورکړه شاته مې ورته بالښت کېښود رسول الله ﷺ په هغه باندې لږ ځان تکيه کړو بيا يې ماته راساً د خپل ځان په اړه وويل او د ځان لپاره

يې وغوښتم کله چې د خپلو خبرو نه فارغ شو ما ورته وويل : اى رسول الله ﷺ زما طبيعت لېږ بل ډول دى چې زه په غيرت کې راځم غصه ډېره راځي هسې نه چې ته لماڅخه داسې څه واورې چې الله ① وربانديې ناراض شي او زه اوس مشره شوې يم او د اولاد خاونده يم .

رسول الله ﷺ راته وويل : ستا د غيرت او غصې خبره ده هغه به الله ① لتا څخه لرې کړي ، ستا د عمر خبره ده کوم عمر ته چې ته رسېدلې يې زه هم ورته رسېدلې يم ، او ستا د عيال خبره ده ستا عيال زما عيال دى .

چې دا خبرې مې واورېدې نو مې خپل ځان رسول الله ﷺ ته حواله کړو .

نو ددې مبارکې رضى الله تعالى عنها او د رسول الله ﷺ په مينځ کې نکاح وشوه د هجرت په څلورم کال کې يې واده وشو دې رضى الله تعالى عنها به فرمايل : د ابو سلمة نه الله ① راته غوره کس راکړو رسول الله ﷺ .

د أم سلمة رضى الله تعالى عنها سره د رسول الله ﷺ د واده نه مطلب اول دا وو چې د حضرت ام سلمة سره همدردي وکوي او هغه چې د خپل مجاهد او مهربان خاوند څخه کونډه پاتې شوې وه رسول الله ﷺ په خپل څنګ کې د ځاى ورکولو په واسطه هغه

غم لـه دي څخه سپک کړو او پـدې وخت کې ددې يـتيمـان بـچيـان وو او رسول الله ﷺ د هغوی پـالـونکی او لـه هغوی سره مـرستـه کـونـکی هم وو .

بـل دا چې د ابـي سلمـة رضی الله تـعـالـی عنـه د تـلـلو نـه وروستـه دا مبـارکـه بـالـکل بـې سرفـرستـه پـاتـې وه او هېڅ کفـيـل يـې نـه درلـود رسول الله ﷺ د هغوی لـپـاره يـو ښه کفـيـل شو او ټـول مـاشومـان بـه يـې د رسول الله ﷺ پـه کـور کې لـوبـېدل او همدلـتـه بـه يـې پـالـنـه کېده او د اسلام پـه شروع کـې د اسلام لـپـاره دې رضی الله تـعـالـی عنـهـا او خـاونـد يـې د هېڅ ډول قـربـانـی څخه مخ نـه وو اړولـی .

أم سلمـة رضی الله تـعـالـی عنـهـا پـه څو شيـانـو کـې د رسول الله ﷺ لـه نـورو بـيـبـيـانـو څخه بـدلـه وه يـو دا چې د رسول الله ﷺ پـه ټـولـو بـيـبـيـانـو کـې د ښائـست لـه نـګـاه نـه دا غوره وه او ددې د فـضيـلـت پـه اړه حضرت عـائـشه رضی الله تـعـالـی عنـهـا فـرمـايـي يـوه ورځ زه او أم سلمـة رضی الله تـعـالـی عنـهـا د رسول الله ﷺ سره نـاستـې وو حضرت حسن د رسول الله ﷺ پـه يـو څنګ کې وو او حسين ❽ پـه بـل څنګ کـې وو او فـاطمـه رضی الله تـعـالـی عنـهـا پـه مـخه کـې وه

رسول الله ﷺ و فـرمـايـل : رَحْمَـةُ ِالله وَبَـرَكَـاتُـهُ عَلَـيْكُمْ أَهْلَ الْـبَـيْتِ، إِنَّـهُ حَمِيـدٌ مَجِيـدٌ

ترجمه : د الله ① رحمت او د هغه برکتونه دې پتاسې باندې وي ای اهل بیت بېشکه الله ① حمید او مجید دی .

پدې سره حضرت أم سلمة رضی الله تعالی عنها په ژړا شوه رسول الله ﷺ ورته وویل : ولې ژاړې .

دې مبارکې ورته وویل : تا دوی په خپله دعا کې خاص کړل زه او زما لور دې پرېښودو؟

رسول الله ﷺ ورته وویل : ته او ستا لور له اهل بیت څنې دي .

رسول الله ﷺ به چې کله د خپلو بیبیانو ملاقات کولو نو یوې یوې ته به بېل بېل ورتلو او شروع به یې د أم سلمة رضی الله تعالی عنها څخه کوله حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي : کله به چې رسول الله ﷺ د مازیګر مونځ وکولو خپلو ښځو ته به راغلو یوې یوې ته به ورتلو شروع به یې له أم سلمة رضی الله تعالی عنها څخه کوله او آخري به یې زه وم .

په صلح حدیبیة کې کله چې د رسول الله ﷺ او د مکې د کفارو په مینځ کې صلح وشوه چې سږ کال به تاسې له همدې ځای څخه ستنېږئ او بل کال به عمرې ته راځئ نو رسو ل الله ﷺ خپلو ملګرو ته وویل پاڅېږي خپل څاروي حلال کړئ او سرونه و خریئ هېڅوک هم له خپل ځای څخه و نه ښوریدل

رسول الله ﷺ د أم سلمة رضی الله تعالی عنها خيمې ته راغلو چې پدې سفر کې يې ملګرې وه او دې ته يې وويل : ما خلکو ته وويل چې پاڅېږئ خپل مالونه حلال کړئ او سرونه و خريئ هېچا مې هم خبره ونه منله .

دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته و فرمايل ته ورشه اول خپل مال حلال کړه او خپل سر خريونکی را وغواړه چې ستا سر وخريي بيا چې رسول الله ﷺ را ووتلو او همداسې يې وکول نو ټولو صحابه وو بيا همداسې وکول .

د علم سيرت علماء ددې واقعې له امله ددې مبارکې په حق کې فرمايي : ډېر د ښه عقل خاونده وه او ډېر تېز ذهن يې وو .

حضرت أم سلمة رضی الله تعالی عنها د يزيد بن معاويه په وخت کې د هجرت په ٦١ کال باندې وفات شوه پدې وخت کې دا مبارکه تر ٨٤ کلونو څخه آوښتې وه د يو قول له مخې چې دا مبارکه د نوي کلونو وه (الله ① يې د ټولو مسلمانو ميندو سره درجې په جنت کې لوړې کړي)



# أم المؤمنين حضرت زينب بنت حجش (رض)

پلار يې : جحش بن رياب بن يعمر بن صبرة بن مرة بن كبير بن غنم بن دودان بن أسد بن خزيمة بن مدركة عامر بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان..

مور مباركه يې صحابية وه : أميمة بنت عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة عامر بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان. دا اميمة رضى الله تعالى عنها د رسول الله ﷺ عمه وه .

زيد بن حارثه ❽ د حضرت خديجې رضى الله تعالى عنها غلام وو هغې مباركې تر بعثت وړاندې رسول الله ﷺ ته تحفه كړو پدې وخت كې هغه د آتو كلونو وو بيا رسول الله ﷺ ازاد كړو او زوى يې ورته وويل بيا به خلكو ورته زيد بن محمد ويل بيا چې كله آيت نازل شو چې هرچا ته د خپل پلار په نوم اواز وكوئ دا ښه خبره ده نو رسول الله ﷺ اعلان وكولو چې د نن څخه وروسته دا زيد بن محمد نه بلكه زيد بن حارثه شو بيا رسول الله ﷺ ورته خپله د عمه لور زينب بنت جحش په نكاح

کړه څرنګه چې د دوی دواړو په مینځ کې د نسب ډېر فرق وو زید بن حارثة ❽ یو غلام او حضرت زینب رضی الله تعالی عنها د قریشو د عالي نسب ښځه د رسول الله ﷺ سکه د عمه لور وه نو ددې أمله د دوی ژوند سره تنګ وو حضرت زید بن حارثه ❽ راغلو رسول الله ﷺ ته ئې شکایت وکولو چې هغه هروخت په ما باندې تکبر کوي او ما په تنګ کوي راته وایي چې ته زمونږ د کورنی سره برابر نه یې او زما نسب تر تا څخه غوره دی .
رسول الله ﷺ زید ته وویل : خیر دی ګذاره کوئ او طلاق مه ورکوه لکن د حضرت زید بن حارثه ❽ ژوند ورسره نه تېرېدو بالآخره یې هغه طلاقه کړه .
کله چې زید طلاقه کړه زید بن حارثه ❽ فرمایي : رسول الله ﷺ ماته وویل : ورشه زما په اړه ورسره خبره وکوه کله چې زه ورغلم ماته ډېره سخته وه چې دهغې سره خبره وکوم لکن بیا مې هم زړه وکولو ورته مې وویل : زیری درکوم رسول الله ﷺ زه را لېږلی یم چې ستا سره د هغه ﷺ په اړه خبر وکوم .
دا رضی الله تعالی عنها لاړه ددې په کور کې یو ځای وو چې دې به پکې مونځ کولو پدې وخت کې په رسول الله ﷺ باندې آیت نازل شو چې الله ① ورته

فرمایل : کله چې زید هغې ته طلاق ورکړو نو هغه مونږ تاته په نکاح کړه رسول الله ﷺ ددې کور ته راغلو او بغیر د اجازې هغه ځای ته ور ننوت چېرته چې دا وه ځکه ددېنه مخکې الله ① هغه رسول الله ﷺ ته په نکاح کړې وه نو خپل اهل یې وو .

منافقینو پدې اړه قصې شروع کړې چې دا محمد ﷺ څه کوي د خپل زوی طلاقه کړل شوې ښځه یې ځان ته په نکاح کړه نو ددې لپاره چې د خلکو دماغونه ور خلاص کړي الله ① آیتونه را نازل کړل چې په هغې کې یې فرمایل : محمد په تاسې کې د هېچا پلار هم نه دی لکن هغه رسول او د انبیاوو آخري نبي دی ، د حضرت زید به اړه نازل شول چې ده ته زید بن محمد مه وایاست بلکه ښه خبره داده چې د هر چا نسبت خپل پلار ته وشي او زید بن حارثه وواياست .

حضرت زینب رضی الله تعالی عنها به کله په نورو بیبیانو باندې فخر کولو ورته ویل به یې : تاسې خپلو پلرونو رسول الله ﷺ ته په نکاح کړې یاست او زه الله ① د اوو اسمانونو څخه پورته رسول الله ﷺ ته په نکاح کړې یم .

او رسول الله ﷺ په ټولو بیبیانو کې بهترینه ولیمه د حضرت زینب په واده کې ورکړې وه ډوډۍ

او غوښه يې په داسې مقدار کې ورکړه چې له خلکو نه پاتې شوه .

د زينب سره په واده کې د رسول الله ﷺ حکمت

رسول الله ﷺ ته الله ① په وحی سره خبر کړو چې زيد خپله ښځه طلاقوي او بيا به يې الله ① ده ﷺ ته په نکاح کوي کله چې زيد بن حارثه ❽ راغلو رسول الله ﷺ ته يې د خپلې بي بي نه شکايت وکولو چې دده اطاعت نه کوي او دی غواړي چې هغه طلاقه کړي رسول الله ﷺ هغه ته نصيحت وکولو چې مه يې طلاقه کوه گذاره کوئ او رسول الله ﷺ پوهېدو چې طلاقوي يې ځکه الله ① له وړاندې نه رسول الله ﷺ ته ويلي وو لکن بيا هم رسول الله ﷺ ددې أمله ده ته ويل چې مه يې طلاقه کوه چې رسول الله ﷺ پوهېدو ددېنه وروسته به د زينب نکاح لما سره کيږي او بيا به خلک وايي چې محمد د خپل زوی ښځه په نکاح کړه نو الله ① په يوه آيت کې ورته و فرمايل : ته د خلکو نه ډارېږي په کار ده چې صرف د الله ① نه وډار شې .

نو د زينب په واده او نکاح کې لوی حکمت دا وو چې د خلکو ذهنونه خلاص شي هغه کس چې تاسې ورته زوی واياست هغه پدې خبر سره ستاسې نه زوی کيږي او که چېرته هغه کس چې تاسې ورته زوی

وایاست خپله ښځه پرېږدي او یا مړ شي نو تاسې دهغه کس ښځه ځان ته په نکاح کولئ شئ .

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها ددې مبارکې په اړه فرمایي : ما تر زینب نه زیاته تقوی داره او دین داره ښځه نه ده لیدلې او ما په دین کې تر زینب غوره ښځه نه ده لیدلې په خپلولي ساتنه کې ، په صدقه کولو کې او الله ① ته د نزدیکت لپاره په هر عمل کولو کې زیاته تکړه وه .

د رسول الله ﷺ سره په غزوة الطائف، غزوة خیبر او حجة الوداع کې د سفر ملګرې وه او کله چې رسول الله ﷺ وفات شو نو د بي بي ز ینب بنت حجش رضی الله تعالی عنها په کور باندې ناسته وه او بالکل یې بهر ته وتل نه خوښول .

حض عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایي : د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه په تا پسې به په بیبیانو کې تر ټولو څوک په تا پسې درځي؟ رسول الله ﷺ ورته وویل : چې د چا لاس ډېر اوږد وي .

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایي بیا به مونږ خپل لاسونه سره غزول په مونږ کې په ټولو کې اوږده لاسونه د حضرت سودة وو مونږ فکر کاوه چې په رسول الله ﷺ پسې به اول دا ورځي بیا مونږ وروسته پوه شوو چې د رسول الله ﷺ د لاسو د

اوړدوالي نه مطلب ډېره صدقه کول وو او حضرت زينب رضی الله تعالی عنها به ډېره صدقه ورکوله اول بيا همدا رضی الله تعالی عنها پسې وفات شوه .

حضرت زينب رضی الله تعالی عنها د حضرت عمر ❽ د خلافت په دوره کې د هجرت په شلم کال په ٥٣ کلنۍ کې وفات شوه ( الله ① ئې دې په جنت کې د ټولو مسلمانانو ميندو سره مرتبې لوړې کړي)

# أم المؤمنين حضرت جويرية بنت الحارث (رض)

دا مبارکه جويرية بنت الحارث بن أبي ضرار بن حبيب بن جذيمة الخزاعية المصطلقية وه د رسول الله ☸ نه وړاندې دې خپل تره د زوی مسافع بن صفوان المصطلقي په نکاح کې وه او په يوم المريسيع کې ووژل شو بيا رسول الله ☸ ددې د قوم سره جنګ وکولو او ډېر کسان پکې اسيران شول دا مبارکه رضی الله تعالی عنها هم د بنديانو په جمله کې وه د غنيمت په تقسيم کې حضرت ثابت بن قيس بن الشماس ❽ ته ورسېده هغه ❽ دا مکاتبه کړه ( يو خاص عدد پيسې يې ترې وغوښتې چې هغه ته دې ورکړي دا به بيا ازاده وي) هغه

رقم پیسې یې حضرت رسول الله ﷺ ورته اداء کړې چې دا کله ازاده شوه بیا رسول الله ﷺ ورسره نکاح وتړله دا د هجرت پنځم کال وو چې رسول الله ﷺ ددې مبارکې سره نکاح وکوله او ددې نکاح لوی تاثیر دا وو چې ددې له قوم سره د رسول الله ﷺ رشته او خپلولي پیدا شوه او له صحابه وو سره چې ددې د قوم څومره کسان اسیران وو ددې په مخ یې ټول خوشې کړل .

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایي :

کله چې رسول الله ﷺ د بني المصطلق د غزا بندیان تقسیم کول دا مبارکه رضی الله تعالی عنها د حضرت ثابت بن قیس بن الشماس په برخه ورسېده او یا د هغه تره زوی ته ور ورسېده او هغه ❽ مکاتبه کړه (یو خاص عدد پیسې یې ترې وغوښتې چې کله یې دا ورکړي دا به ازاده وي) هغه راغله رسول الله ﷺ ته ودرېده او د کتابت په پیسو کې یې ترېنه مرسته غوښته او ورته ویل یې :

یا رسول الله ﷺ زه جویریه بنت حارث بن ابي ضرار یمه او ماته هغه څه ورسېدل چې تاته معلوم دي (د بندیانو په جمله کې راوستل شوم) بیا په برخه کې ثابت بن قیس یا د هغه د تره زوی ته

ورسېدم هغه زه مکاتبه کړم زه اوس تاته راغلم او د کتابت په پیسو کې درڅخه مرسته غواړم .
رسول الله ﷺ ورته وویل : زه به ستا د کتابت پیسې اداء کړم او لتا سره به واده وکوم ستا خوښه ده؟ دې مبارکې وویل : هو یا رسول الله ﷺ.
رسول الله ﷺ ورته وویل : بس وشوه هر لوري ته اواز خپور شو چې رسول الله ﷺ د حضرت جویریة بنت الحارث سره نکاح وکوله او دهغې د قوم خلک اوس د رسول الله ﷺ خسرګنی شوه نو له هرچا سره چې بندي وو هغه یې خوشې کړل او ددې په واده سره د بني مصطلق خلک چې په مدینه منوره کې وو سل کسان ترېنه ازاد شول حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایي ماته بله داسې ښځه نه ده معلومه چې خپل قوم ته یې تردې زیاته فایده رسېدلې وي .
د ابن سعد د روایت له مخې کله چې حضرت جویریة بنت الحارث بندي کړل شوه پلار یې رسول الله ﷺ ته وویل : یا رسول الله ﷺ دا زما لور اوس لتاسې سره بندي ده او ددې په شان جینکۍ نه بندیانې کیږي یا رسول الله ﷺ مونږ د عزت کورنۍ یو خیر دی دا زما لور پرېږدئ رسول الله ﷺ ورته وویل : که هغه زه ځان ته غوره کړم دا ښه خبره نه ده؟ د بي بي پلار ورته ویل هو صحیح ده .

پلا يې حضرت جويريې رضى الله تعالى عنها ته وويل : دا كس (رسول الله ☸) تا د ځان لپاره غوره كوي ته يې ومنه .. هغې مباركې وويل : بس رسول الله ☸ زما خوښ دى .

دا ډېره زياته تقوى داره او زيات عبادت كونكې بي بي وه حضرت عبد الله بن عباس ❽ ددې مباركې د زيات عبادت په اړه فرمايي يوه ورځ سهار وختي چې رسول الله ☸ ددې په خوا كې تېرېدلو دا په جومات كې په ذكر او عبادت مصروفه وه چې بيا د ورځې نيمايي شو رسول الله ☸ بيا چې هغې خوا ته ورغلو نو دا مباركه لا تر اوسه هلته په هماغه حالت كې وه رسول الله ☸ ورڅخه وپوښتل : ته تراوسه په هماغه حالت كې يې ؟ دې مباركې ورته وويل : هو يا رسول الله ☸ بيا رسول الله ☸ ورته وويل زه تاته يوڅو مباركې كلمې در ښايم چې ته به يې هروخت وايې :

سبحان الله عدد خلقه ، سبحان الله عدد خلقه ، سبحان الله عدد خلقه ، سبحان الله رضا نفسه ، سبحان الله رضا نفسه ، سبحان الله رضا نفسه ، سبحان الله زنة عرشه ، سبحان الله زنة عرشه ، سبحان الله زنة عرشه ، سبحان الله مداد كلماته ، سبحان الله مداد كلماته ، سبحان الله مداد كلماته

حضرت جويرية رضى الله تعالى عنها د هجرت په پنځوسم كال د يو روايت له مخې په ٥٧ كال په مدينه منوره كې وفات شوه پدې وخت كې يې عمر ٦٥ كاله وو (الله ① يې دې د ټولو مسلمانانو ميندو سره په جنت كې درجې لوړې كړي)

# أم المؤمنين حضرت رملة أم حبيبة (رض)

نسب يې :

د پلار له لوري : أم حبيبة بنت أبي سفيان صخر بن حرب بن أمية الأكبر بن عبد شمس بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرّة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

په اصلي نوم كې يې اختلاف دى چې رملة او كه هند دى مشهور قول دادى چې اصلي نوم يې رملة دى .

مور يې : صفية بنت أبي العاص بن أمية الأكبر بن عبد شمس بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرّة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس

بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان دا صفية د حضرت عثمان ❽ عمه وه .

په قريشو کې دا مباركه رضی الله تعالی عنها د لويې كورنۍ څخه وه دا يې والد محترم وو ابو سفيان چې د قريشو رئيس وو او ورور يې معاوية بن ابي سفيان د أمويانو خلفاوو څخه وو كله چې د حضرت معاوية د خلافت وخت وو د حضرت أم حبيبية له وجې هغه ته خال المؤمنين (د مسلمانانو ماما ويل کېدل) .

د رسول الله ﷺ نه وړاندې دا بي بي د عبد الله بن جحش په نكاح کې وه او هغه وخت چې رسول الله ﷺ دې مبين دين ته خدمت شروع کړو دا مباركه د خپل خاوند سره په يو ځای په دار ا لارقم کې په اسلام مشرفه شوې وه او كله چې په مكه مكرمه کې د مسلمانانو ژوند سخت شو حضرت أم حبيبة رضی الله تعالی عنها د خپل خاوند سره حبشې ته مهاجره شوه سره ددې چې په مكه کې ددې ښه ژوند وو او د راحت زندگي يې وه لكن د خپل دين لپاره يې دا هر ډول نعمتونه پرېښودل او د مسافرې ژوند يې خوښ کړو سره ددې چې د حبشې زمكه د مكې مكرمې نه ډېره لرې ده او اوږد د مشقت نه ډک سفر وو او ددې ټولو سربېره دا رضی الله تعالی عنها د حمل په اولو مياشتو کې وه

په کومو کې چې د سفر کول اسان کار نه وي لکن دوی د اسلام لپاره دا قرباني ورکوله .
په حبشه کې د یوڅه وخت تېرېدلو نه وروسته یې ماشومه پیدا شوه حبیبة بیا دهغې نه وروسته حضرت رملة رضی الله تعالی عنها په أم حبیبة سره یاده کړل شوه .
یوه شپه حضرت أم حبیبة رضی الله تعالی عنها خپل خاوند په خوب کې ډېر په بد شکل کې ولیدو دا ددې خوب نه زیاته وډاره شوه سبا یې چې د هغه سره خبرې کولې خاوند یې ورته وویل : ما په نصرانیت کې له هغه شیانو څخه غوره شیان پیدا کړل کوم چې په اسلامي کې وو او ما نصرانیت قبول کړو حضرت أم حبیبة رضی الله تعالی عنها ډېر کوښښ وکولو چې خپل خاوند بېرته اسلام ته را وګرځوي لکن بیا هغې رضی الله تعالی عنها ته دا هم ښکاره شوه چې خاوند یې اوس نوی په شرابو هم معتاد شوی دی .
بله شپه یې خوب لیدو چې یو څوک ورته په أم المؤمنین سره اواز کوي دا چې کله را ویښه شوه د خپل خوب معنی یې وکوله چې رسول الله ﷺ به ددې سره نکاح وکوي په همدې وخت کې د یوڅه وخت په تېرېدلو سره یې خاوند د نصرانیت په حالت کې مړشو حضرت أم حبیبة رضی الله تعالی عنها ته ځان په پردي ملک کې ډېر یوازې ښکاره شو د خپل پلار له ډار نه مکې ته هم نشوای راتلی

ماشومه ورسره د شودو د خوړلو په عمر کې پاتې شوه دې رښتونې مسلمانې ته د صبر نه بغیر نور هېڅ هم ور پاتې نه وو بس ټولو مشکلاتو ته یې د صبر او ایمان سره غاړه ورکړه او په هرشي باندې یې صبر کولو .

رسول الله ﷺ له ټولو هغه څه نه خبر وو چې په أم حبیبة باندې تېرېدل نجاشي ته یې احوال ور ولېږلو چې أم حبیبة ماته په نکاح کړه کله چې د نجاشي قاصد أم حبیبة رضی الله تعالی عنها ته راغلو دا ډېره زیاته خوشحاله شوه او خپل خوب یې ور په زړه شو او د خپل ځان لپاره یې وکیل خپل د خاله زوی خالد بن سعید ابن العاص ونیولو او مهر یې هم ٤٠٠ درهمه نجاشي د رسول الله ﷺ له لوري نه ورکړو .

کله چې ابو سفیان پدې خبر شو چې زما لور د کونډ وال نه وروسته رسول الله ﷺ ته په نکاح شوه نو په زړه کې یې د رسول الله ﷺ سره دښمني کمه شوه او همدارنګه د ټولو بني أمیة د خلکو په زړه کې د رسول الله ﷺ سره دښمني کمه شوه ځکه رسول الله ﷺ اوس د دوی زوم شو .

بیا هغه رسول الله ﷺ ته مدینې منورې ته ورغله هغه وخت چې د فتح مکې نه وړاندې د قریشو له لوري نه د رسول الله ﷺ په صلح حدیبیة کې کړی

تړون د هذیل قبیلې له خلکو سره چې د رسول الله ﷺ په تعهد کې وو د قریشو د جنګ له امله مات کړل شو نو ددې لپاره چې کفارو نه غوښتل له مسلمانانو سره جنګ وکوي نو ابو سفیان یې مدینې منورې ته ولېږلو چې د رسول الله ﷺ نه ددې تړون د ماتېدلو بښنه وغواړي هغه روان شو اوس به په مدینه منوره کې د خپلې لور سره شپاړس کاله وروسته مخامخ کیږي نو ده فکر کاوه چې له یوه پلوه خو زه اوس د قریشو مشر یم او له بله پلوه خو أم حبیبة زما لور ده او له بله پلوه زه شپاړس کاله وروسته د هغې سره مخامخ کېږم هغه خو به زما سم دروند او ګرم استقبال وکوي لکن کله چې ابو سفیان د أم حبیبة رضی الله تعالی عنها کوټې ته ورننوت ویې لیدل چې یو وړوکی فرش پکې هموار دی نو بي بي رضی الله تعالی عنها ور منډه کړه او هغه فرش یې را ټول کړو هغه یې ونغښتلو او لرې یې چېرته کېښودو ... ده چې وکتل د خپلې لور دې کار ته حیران شو پوښتنه یې وکوله :

لورې زه د ددې فرش قابل ونه لیدم او که فرش د زما قابل ونه ګڼلو؟

دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : دا زما په کوټه کې د رسول الله ﷺ فرش دی پدې باندې زما په کوټه کې هغه ﷺ کیني او ته چې لا

تـراوسه پـه اسلام مـشرف شوی نـه یـې نـو نـا پـاک یـې زه نـه غواړم چې تـه د هغه پـه فـرش بـانـدې کـینـې . ده ورتـه وویـل : لـورې زمـا نـه وروسته تـه خرابـه شوې یـې .

پـدې سره أم حبیبة رضی الله تـعالـی عنها خپل پـلار تـه یـو لـوی درس ورکـړو هغه تـعلق چې د اسلام لـه أملـه جوړ وي تـر هغه تـعلق وړانـدې دی چې د نـسب لـه املـه وي او پـدې خبـره یـې پـوه کـړو چې څوک هم پـه اسلام کې داخلـیږي دا بـیـا یـو بـدن وي او هغوی د اسلام د پـاره خپل پـلار ، وروڼه او نـور خپلـوان پـریـښودلـی شي .

د حضرت أم حبیبة رضی الله تـعالـی عنها څخه ټـول ٦٥ احـادیـث نـقـل شوي دي

دا مـبـارکـه د هجرت پـه ٤٤ کـال وفـات شوه او پـه بقیع کې خـاورو تـه وسپـارل شوه (الله ① یـې د ې ټـولـو مسلمـانـانـو مینـدو سره پـه جنت کې مرتـبې لـوړې کـړي) دمـرګ نـه وړانـدې یـې حضرت عائـشه رضی الله تـعالـی عنها را وغوښته ورتـه ویـل یـې : د بـنـو پـه میـنـځ کې خبـرې وې کـه تـاتـه زمـا لـه لـوري کـوم تـکلـیف رسېدلـی وي او یـا مې پـه تـا پـسې کـومـه خبـره کـړې وي بـښنـه راتـه وکـوه حضرت عائـشې رضی الله تـعالـی عنها ورتـه وویـل الله ① د تـاتـه ټـول وبـښي الله ① تـاتـه تـریـنـه در تـېر شي حضرت أم

حبيبة رضى الله تعالى عنها ورته ويل الله ① د تا خوشحاله کړي زه دې خوشحاله کړم .

بيا يې أم سلمة رضى الله تعالى عنها ته احوال ورولېږلو او د هغې سره يې هم په همدې ډول سره خبرې وشوې



# أم المؤمنين حضرت ريحانة بنت زيد (رض)

ريحانة بنت زيد بن عمرو بن قنافة النضيرية اليهودية بنت شمعون بن زيد القرظية

دا په خپله د بني النضر ښځه وه لکن د بني قريظة د يو کس سره يې واده کړى وو ددې امله ځينې روايتونه ددې مبارکې نسبت بني قريظة ته کوي د محمد بن کعب نه روايت دى چې حضرت ريحانة بنت زيد په رسول الله ﷺ باندې د الله ﷻ له لوري نه يو نعمت وو کله يې چې خاوند ووژل شو دا په بنديانو کې وه .

دا مبارکه فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته راغلو راته يې وويل : که ته الله ﷻ او دهغه رسول خوښوې نو ته رسول ځان ته خوښه کړې يې ما ورته وويل هو ما هم الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ خوښ کړي دي .. بيا رسول الله ﷺ دې مبارکې ته د اسلام او د يهوديت د غوره کولو په مينځ کې اختيار ورکړو لکن که دا په يهوديت پاتې وي نو وينزه به وي لکن دې چې کله اسلام قبول کړو نو رسول الله ﷺ ازاده کړه او د هجرت په دريم کال يې په محرم کې نکاح ورسره وکوله د رسول الله ﷺ

تر حد زياته خوښه وه او چې دې به څه تقاضا کوله رسول الله ﷺ به هغه شی ورکول يو وخت دې رضی الله تعالی عنها ته وويل شول که تا د رسول الله ﷺ لپاره د بني قريظة وو لپاره ازادي غوښتې وی نو هم رسول الله ﷺ به ورکړې وه .

دې وويل : چې رسول الله ﷺ له ما سره وروسته د هغې وکتل چې د بني قريظة وو قصه يې ختمه کړې وه .

حضرت ريحانة رضی الله تعالی عنها فرمايي ماته رسول الله ﷺ داسې مهر راکړو لکه نورو بيبيانو ته يې چې ورکولو او د أم المنذر په کور کې يې را باندې واده جوړ کړو او همداسې برخه به يې راکوله په هرشي کې لکه نورو بيبيانو ته يې چې ورکوله او زه يې له هغه وخت نه په پرده کې کړم .

يو روايت داسې هم شته چې دا مبارکه د رسول الله ﷺ سره په ملک يمين کې وه (وينزه وه) او رسول الله ﷺ ورته و فرمايل : که چېرته ته غواړې زه به تا ازاده کړم او نکاح به درسره وکوم لکن دې ورته وويل : نه بس همداسې ستاسې په ملک کې ښه يم .

لکن اوله خبره چې رسول الله ﷺ ددې سره نکاح کړې وه غوره خبره ده .

دا بي بي له رسول الله ﷺ سره وه چې کله دوی د حجة الوداع نه را ستانه شول دا بي بي وفات شوه د الاصابة مصنف رحمه الله فرمايي ددې او د رسول الله ﷺ د وفات په مينځ کې شپاړس مياشتې وې .

# أم المؤمنين حضرت صفية بنت حيى بن ا خطب (رض)

يهودو د اسلام له شروع نه د ا سلام او د رسول الله ﷺ سره زياته دښمني کوله ځکه د دوی دا نه وه خوښه چې آخرين نبي له دوی څخه نه دی او له هغې وخت نه چې دوی خبر وو چې آخري نبي به په عربو کې راځي نو دوی غصه وو او په زړه کې يې دښمني ورته ګرځوله کله چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکولو دوی پوه شول چې پدې هجرت سره به اسلام زورور شي او په عربي جزيره کې به يې پښې مضبوطي شي او دوی پدې پوه شول مدينه به ددينه وروسته د اسلام لوی مرکز وي کله چې رسول الله ﷺ د صلح حديبيې نه بېرته بغير د عمرې نه ستون شو نو د خيبر يهودو فکر کاوه چې دا د رسول الله ﷺ کمزوري وه او که دده په وس پوره وای نو ده به په زور هم عمره کړې وای او بغير د عمرې څخه به نه راستنېدو نو پدې وخت کې

رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې د خیبر یهود د مسلمانانو سره د جنګ تیاري کوي رسول الله ﷺ فوراً په خپلو مجاهدینو باندې ږغ وکولو او هغوی ته یې وویل را ټول شئ خیبر ته د غزا لپاره په یهودو پسې ورځو سحر وختي په خیبر باندې په داسې حالت کې ورغلل چې هغوی خپلو زمکو ته په کارونو پسې روان وو او هغوی یې په قلاګانو کې محاصره کړل د هغوی سره جنګ وشو بندیان تریږنه ونیول شول او کسان تریږنه ووژل شول په بندیانو کې یوه حضرت صفیه وه .

نسب یې

د پلار له لوري : صفية بنت حيي بن أخطب بن سعية بن ثعلبة بن عبيد بن كعب بن الخزرج بن أبي الحبيب بن النضيربن النحام بن ناخوم.

وبنو النضير قبيلة من ذرية النبي هارون بن عمران بن قاهات بن لاوي بن يعقوب بن إسحاق بن إبراهيم بن آزر.

مور یې : برة بنت سموأل من بني قريظة من ذرية النبي يعقوب بن إسحاق بن إبراهيم بن آزر.

دا د صحابي حضرت رفاعة بن سموأل خور وه .

پلار یې د بني النضر قبیلې مشر وو دا په مدینه منوره کې د پلار او د تره د زوی سره وه پلار یې د بني قریظة وو په جمله کې مړ شو قصه یې په

غزوة بني قريظة کې ددې سلسلې په پنځم کتاب کې تېره شوه .

د رسول الله ﷺ نه وړاندې د سلام بن مکشوح القرضي په نکاح کې وه د يو قول له مخې د سلام بن مشکم په نکاح کې وه بيا د هغه نه وروسته د کنانة بن ابي الحقيق په نکاح کې وه هغه د خيبر په جنگ کې ووژل شو او دا د ځه نورو بنديانو سره اسيره شوه رسول الله ﷺ د ځان لپاره خوښه کړه بيا يې ورته اختيار ورکړو چې اسلام قبلوي او که په خپل دين پاتې کيږي ورته يې وويل : که ته چېرته اسلام خوښ کړې زه به درسره نکاح وکوم او که ته غواړې چې په يهوديت کې پاتې شې نو ازاده به دې کړم ځه بېرته دې خپل قوم ته لاړه شه .

دې مبارکې ورته وويل: يا رسول الله ﷺ مخکې ددې چې ته ما اسلام ته در وغواړې ما ا سلام خوښ کړی دی زما په يهوديت کې هېڅ دلچسپي نشته او نه مې هلته پلار او ورور شته چې زه هغه خوښ کړم تا ماته د کفر او اسلام په مينځ کې اختيار راکړو نو ماته الله ① او دهغه رسول ﷺ د خپلې ازادي څخه زيات گران دي .

بيا رسول الله ﷺ ازاده کړه او نکاح يې ورسره وکوله او ددې ازادي يې ددې لپاره مهر کړو او حضرت أم سليم رضی الله تعالی عنها راغله ددې سر

يې ور ګمنځ كړو عطر يې وربانديې ولګول او د رسول الله ﷺ د ملاقات لپاره يې لکه ناوې داسې جوړه كړه .

دا قصه حضرت انس 8 داسې كوي .

كله چې رسول الله ﷺ خيبر ته ورسېدو او هلته يې يوه قلا فتح كړه دده په مخ كې د حضرت صفية بنت حيى بن اخطب ياد وكول شو چې د هغې خاوند ووژل شو او دا نوې ناوې وه نو رسول الله ﷺ ازاده كړه او بيا يې ورسره پخپله واده وكولو او أم سليم رضى الله تعالى عنها د رسول الله ﷺ د ملاقات لپاره تياره كړه په سبا كې رسول الله ﷺ وويل له چا سره چې كوم شى وي را يې دوړي يو چا به خورما راوړې ، يو چا به غوړي راوړل او چا به ستوان راوړو او تول يې سره شريک كړل او خلكو ته يې دعوت وركړو چې راشئ او وخورئ همدا د ددې مباركې وليمه وه دى وايي ما رسول الله ﷺ ليدو چې كله مونږ بېرته مدينې منورې ته په ستنېدو كې وو نو رسول الله ﷺ به حضرت صفيې مباركې رضى الله تعالى عنها ته خپل زنګون مبارك كېښودو او دې مباركې به وربانديې پښه كېښوده او اوښ ته به وختله . (صحيح بخاري) .

د رسول الله ﷺ سره د حضرت صفية ملاقات د خيبر نه مدينې منورې ته په لاره كې وشو په كومه شپه چې

دوی په یو ځای کې وو حضرت ابو ایوب انصاري ❽ د رسول ﷲ ☸ په څوکیداري باندې مامور وو هغه ❽ تر سحر پورې ډاریدو او سترګې یې نشوای پټولی هسې نه چې رسول ﷲ ☸ په خیمه کې ویده شي او صفیة ورسره خیانت وکوي د خپل قوم بدل ورڅخه واخلي او رسول ﷲ ☸ ته څه تکلیف ورسوي .

کله چې رسول ﷲ ❽ د حضرت ا بو ایوب ❽ دداسې توجه نه خبر شو دعا یې ورته وکوله ویل یې : ﷲ ① ابو ایوب وساته لکه زه یې چې نن شپه ساتلم .

کله چې رسول ﷲ ☸ حضرف صفیې رضی ﷲ تعالی عنها ته وکتل د هغې مبارکې په مخ باندې د څپړې نشان ښکاره کېدو رسول ﷲ ☸ ترینه پوښتنه وکوله دا څه شی دي؟

دې مبارکې وویل یوه شپه مې خوب لیدو چې د یثرب له خوا نه سپوږمی راشي او زما په لمن کې را ولویږي سبا مې دا خوب د خپل تره زوی ته وویل هغه په څپړه په مخ ووهلم او راته ویې ویل : ته ددې تمه لرې چې د یثرب مشر ستاسره واده وکوي .. او دا اثر د هماغه وار څخه زما په مخ کې پاتې دی .

ددې سره د واده کولو نه د رسول الله ﷺ هدف دا وو چې څرنګه دې مبارکې خپل قوم خپلوان پلار او هرڅوک له لاسه ورکړي وو ددې سره په واده کولو یې غوښتل ددې غم سپک کړي او همدارنګه غوښتل یې چې د یهودو سره نسبي رابطه جوړه کړي د هغوی په دښمنۍ کې به لږ سپک والی راشي .

حضرت صفیة رضی الله تعالی عنها کله چې د رسول الله ﷺ کور ته راغله د ایمان شکلی نور یې زړه او دماغ ته ور ننوتلو او د اسلام په تنفس سره یې تنفس شروع کړو د پلار او ټولو خپلوانو او ټولې کورنۍ غمونه یې وربانديې هېر کړل .

د رسول الله ﷺ په بیبیانو کې چې کله حضرت صفیة رضی الله تعالی عنها ور شریکه شوه نو یې غوښتل چې د ټولو بیبیانو سره ښه رویه وکوي او د ټولو سره ښه تعلق وساتي او د ښه خوی خاونده وه .

کله چې رسول الله ﷺ بېمار شو دې رضی الله تعالی عنها ویل کاش دده ﷺ په ځای باندې زه بېماره وی او دی ﷺ جوړ وی د حضرت زید بن اسلم رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی هغه فرمایي : په هغه بیمارۍ کې له کومې نه چې رسول الله ﷺ وفات شو خپلې بیبیانې یې ورته را ټولې شوې وې دې مبارکې ورته ویل : قسم مې د په خدای وي یا

نبی الله زه خوشوم چې ستا دا بیماري په ما باندې وی د رسول الله ﷺ نورو بیبیانو یو بل ته سره په اشارو کې وکتل رسول الله ﷺ و فرمایل : والله دا رښتیا وایي (رښتیا یې دا خوښه ده چې زما بیمارۍ په دې باندې وی)

د شرافت او حیاء ډکه بي بي وه د لوړ او اصیل ذات خاندان څنې وه داسې ښائست یې درلود چې د نورو بیبیانو په زړونو یې اثر کولو او حضرت زینب بنت جحش رضی الله تعالی عنها به فرمایل : ماته ښکاره کیږي چې دا جاریه به د رسول الله ﷺ د زړه د حاصلولو په اړه له مونږ نه زوروره شي .

حضرت صفیة رضی الله تعالی عنها فرمایي : زه رسول الله ﷺ ته پداسې حالت کې ورغلم چې د حضرت عائشې او حضرت حفصې رضی الله تعالی عنهما څخه ماته څه خبرې را رسېدلې وې ما رسول الله ﷺ ته وویل : ماته را رسېدلي دي چې عائشه او حفصه ویلي دي مونږ د صفیه څخه غوره یو مونږ د رسول الله ﷺ د تره لوراني یو او دهغه په نکاح کې یو.

رسول الله ﷺ راته و فرمایل : تا ورته ونه ویل : تاسې له ما څخه څنګه غوره کېدلی شئ زما خاوند محمد پلار مې هارون او تره مې موسی علیهم الصلوة و السلام دي)

د ډېر تېز ذهن او سليم عقل خاونده وه يوه ورځ ددې يوه وينزه وه هغه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته ورغله ورته ويل يې : صفيه تر اوسه پورې د هفتې ورځ خوښوي ( ديهودو مذهبي ورځ همدا وه ) او حضرت صفيه تر ا وسه پورې د يهودو سره همدردي لري حضرت عمر ❽ پدې اړه لدې څخه پوښتنه وکوله دې مبارکې ورته وويل : هر چې د هفتې خبره ده نو له کومې ورځې نه چې د هغې په بدل کې ماته الله ① جمعه راکړېده نو د هفتې ورځ مې بيا دومره نه ده خوښه لکه جمعه .

هر چې د يهودو سره همدردي ده دا ځکه چې زه له يهودو نه يم او ټول خپلوان مې يهود دي .

بيا يې خپلې وينزې ته وويل : داسې دې ولې وکول ؟ هغې ورته وويل شيطان را باندې وکول .

بيا يې هغه وينزه ا زاده کړه او ورته يې وويل ځه له ما څخه ازاده يې .

دا مبارکه د حضرت معاويه په دور کې د هجرت په پنځوسم کال کې وفات شوه او د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها لپاره يې په زرو دينارو باندې وصيت وکولو په بقيع کې خاور ته وسپارل شوه .



# أم المؤمنين حضرت ميمونة بنت الحارث (رض)

نسب يې :

پلار يې : الحارث بن حزن بن بجير بن هزم بن رويبة بن عبد الله بن هلال بن عامر بن صعصعة بن معاوية بن بكر بن هوازن بن منصور بن عكرمة بن خصفة بن قيس عيلان بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور يې : هند بنت عوف بن زهيربن حماطة بن جرش بن أسلم بن زيد بن سهل بن عمرو بن قيس بن معاوية بن جشم بن عبد شمس بن وائل بن الغوث بن قطن بن عريب بن زهير بن الغوث بن أيمن بن الهميسع بن حمير بن سبأ بن يشجب بن يعرب بن قحطان.

ددې مباركې خورانې وې :

أم الفضل (لبابة الكبرى) د حضرت عباس ❽ مېرمن وه .

لبابة الصغرى د وليد بن مغيرة المخزومي مېرمن وه او د خالد بن وليد ❽ مور وه .

عصماء بنې الحارث د ابي بن خلف ښځه وه .

غرة بنت الحارث د زياد بن عبد ا لله بن مالك الهلالي مېرمن وه .

دا یې سکه خورانې وې او د مور له لوري یې نورې خورانې هم وې .

اسماء بنت عمیس د حضرت جعفر ❽ مېرمن وه له هغه نه چې کونډه شوه بیا حضرت ابو بکر صدیق ❽ وکوله له هغه ❽ نه چې پاتې شوه بیا حضرت علي ❽ وکوله .

سلمی بنت عمیس دحمزه بن عبد المطلب مېرمن وه له هغه ❽ نه چې کونډه شوه بیا شداد بن اسامة بن الهاد وکوله .

سلامة بنت عمیس د عبد الله بن کعبن بن عنبة الخثعمي کور ودانه وه .

ددې امله ددې د مور په اړه ویل کیږي چې په دنیا کې به بیا داسې څوک نه وي چې ددېنه ښه زومان ولري ځکه چې په دنیا کې تر ټولو مخلوقاتو غوره حضرت رسول الله ☸ ، حضرت ابو بکر صدیق، حضرت حمزة ، حضرت عباس، حضرت جعفر، حضرت علي، شداد بن الهاد ☙ یې ټول زومان وو رښتیا هم چې ددې ښځې نه په دنیا کې بیا څوک غوره زومان نشي پیدا کولی او نه یې مخکې پیدا کړي وو .

دا بي بي اول مسعود بن عمرو الثقفي ته واده شوه تر اسلام لږ وړاندې بیا یې د هغه سره بېلتون راغلو بیا ابو رهم بن عبد العزی وکوله هغه هم ددې مبارکې نه پداسې وخت کې مړ شو چې

ددې لا ځواني وه بیا یې ایمان زړه ته ور ننوت او الله ① په اسلام باندې شرف ورکړو بیا یې د رسول الله ﷺ سره د ژوند شرکت د هجرت په ۷ کال باندې نصیب شو .

څرنګه چې دا مبارکه له هغه کسانو څخه وه چې د اسلام په شروع کې په اسلام مشرفه شوې وه او له رسول الله ﷺ سره یې د زړه مینه وه او د رښتوني مسلمانانو له جملې څخه وه کله چې رسول الله ﷺ د هجرت په اوم کال مکې مکرمې ته د عمرې لپاره راغلو نو دې خپلې خور أم الفضل مخکې تېر شول چې د حضرت عباس رضی الله تعالی عنه په نکاح کې وه سره یوه د راز خبره وکوله هغه دا وه چې که ممکنه وای چې رسول الله ﷺ زما سره واده کړی وای څرنګه چې أم الفضل د خپل خاوند حضرت عباس ❽ څخه هېڅ خبره نه پټوله نو یې ورته وویل : زما خور وایي که کیدای شي چې رسول الله ﷺ ددې سره واده وکوي .

څرنګه چې حضرت عباس ❽ له خپل وراره رسول الله ﷺ څخه هېڅ راز پټ نه ساتلو نو رسول الله ﷺ ته یې دا خبره ور ورسوله رسول الله ﷺ فوراً خپل د تره زوی حضرت جعفر بن ابي طالب پسې ور ولېږلو او د رسول الله ﷺ لپاره یې وغوښته ددې نه چې حضرت جعفر رضی الله تعالی عنه څنګه وتلو دا هم

په اوښ سپره شوه او د رسول الله ﷺ په مجلس کې حاضره شوه کله یې چې په رسول الله ﷺ باندې سترګې ولګېدلې ورته یې وویل : دا اوښ او هغه څه چې پدې اوښ دي ټول د الله ① او د هغه د رسول ﷺ دي .

پدې ډول باندې حضرت میمونې رضی الله تعالی عنها خپل ځان رسول الله ﷺ ته تحفه کړو او ددې په اړه آیت نازل شو چې مطلب یې وو :

او که کومه مومنه خپل ځان رسول الله ﷺ ته هبه کړي که چېرته رسول الله ﷺ دهغې سره د نکاح اراده کوله لکن دا صرف ستا لپاره د عامو مومنانو لپاره دا حکم نه دی .

رسول الله ﷺ د تېر کال د تړون له مخې په مکه مکرمه کې د دریو شپو لپاره د پاتې کېدو اجازه درلوده چې څلورمه ورځ شوه نو د کفارو لخوا کسان ورته راغلل چې حویطب بن عبد العزی پکې وو وروسته په اسلام مشرف شوی دی او رسول الله ﷺ ته یې وویل : د تړون له مخې ستاسې وخت پوره شوی دی تاسې نور لاړ شئ او حرم خالي کړئ رسول الله ﷺ ورته وویل : پتاسې څه بوج دی که ماته اجازه راکړئ چې دلته زه واده وکوم او ډوډی به تیاره کړم او تاسې ته به هم پکې دعوت درکړم او تاسې به زمونږ سره په یو خوراک کې حاضر

شئ؟ دوی ورته وویل : مونږ ته ستا د طعام او خوراک ضرورت نشته تاسې لاړ شئ .

دوی له حرم څخه را ووتل د سرف نومي ځای ته او له عمرې نه یې ځان حلال کړو هلته یې وربانديې واده جوړ کړو عام خلک یې خوراک ته ور غوښتې وو مشرکین یې هم ور غوښتي وو لکن دوی هغه دعوت ونه منلو او په واده کې یې شرکت ونه کولو تر اوسه پورې د حضرت میمونې نوم برة وو اوس رسول الله ﷺ وربانديې میمونة نوم کېښودو .

حضرت میمونة رضی الله تعالی عنها چې کله له رسول الله ﷺ سره مدینې منورې ته ننوتله د دار هجرت ښځو یې ډېر ګرم استقبال وکولو او له هرې خوا نه ورته د مبارکي اوازونه راتلل چې د رسول الله ﷺ په کور کې ستا قسمت وشو او دا ډېره زیاته خوشحاله وه او ټولو خلکو په خپل استقبال سره دا خوشحاله کوله چې د الله او د هغه د رسول رضا حاصله کړي او په خوشحالي سره یې د رسول الله ﷺ تر کوره پورې ورسوله او پدې وخت کې ددې مبارکې عمر ۲٦ کاله وو .

د هجرت په ٥١ کال د حضرت معاویة ❽ په دور کې په سرف کې په حق ورسېده او هماغلته خاورو ته وسپارل شوه په کوم ځای کې چې ددې مبارکې له رسول الله ﷺ سره واده شوی وو .

او د رسول الله ﷺ په مبارک حیات کې دا آخري بي بي وه چې ده ﷺ ورسره نکاح کړې وه الله ① یې دې په جنتونو کې د ټولو مسلمانو میندو سره درجه لوړه کړي .

# أم المؤمنين حضرت ماريه القبطية (رض)

کله چې رسول الله ﷺ صلح الحديبية نه را وګرځېدو نو د قریشو د جنجال نه تر لسو کلونو پورې بېغمه شو اوس به تر لسو کلونو پورې د مسلمانانو او قریشو په مینځ کې جنګ نه وي رسول الله ﷺ بادشاهانو ته یې لیکونه لېږل شروع کړل او ددې کار لپاره یې په خپلو ملګرو کې غوره کسان را ټول کړل هرقل ، کسرى مقوقس ، او د حبشې بادشاه ته یې لیکونه ولېږل په دوی کې یې مقوقس ته چې د الاسکندریې تر واکمنې لاندې په مصر باندې بادشاه وو حضرت حاطب بن ابي بلتعة ❽ ور ولېږلو چې بېرته را ستنېدو نو مقوقس رسول الله ﷺ ته ماریه قبطیة د هغې خور سیرین او د هغه وروړ مابور د څه نورو تحفو سره را ولېږل په لاره کې حاطب بن ابي بلتعة ❽ حضرت ماریة او د هغې خور او د هغې وروړ ته

اسلام ور وړاندې کړو ماریة ❽ او خور یې اسلام قبول کړو او ورور یې په خپل دین باندې پاتې شو بیا وروسته په مدینه منوره کې په اسلام مشرف شو د دوی سره یو لیک وو چې مقوقس پکې رسول الله ﷺ ته لیکلي وو دا د ټول مصر نه غوره تحفې دي چې ما تاسې ته وړاندې کړې نو رسول الله ﷺ ولیدل چې ماریة د ښو اخلاقو او ښه شکل لرونکې وه هغه یې له ځان سره حصاره کړه او څرنګه چې دواړه خویندې وې نو حضرت سیرین رضی الله تعالی عنها چې ددې خور وه هغه یې حضرت حسان بن ثابت ❽ ته په نکاح ورکړه .

ماریه رضی الله تعالی عنها د رسول الله ﷺ سره په ملک یمین کې (د وینزې په شکل کې) پاتې وه او ددې امله یې په حجاب کې کړه الله ① له رسول الله ﷺ نه حمل ورکړو او د هجرت په آتم کال په ذی الحجة کې یې ماشوم پیدا شو ابراهیم او پدې پیدائښت کې یې قابلة د رسول الله ﷺ ازده کړل شوې وینزه سملی وه .

د ابراهیم په ولادت سره ماریة ازاده شوه حضرت عبد الله بن عباس ❽ فرمایي : کله چې د ماریة رضی الله تعالی عنها ماشوم پیدا شو رسول الله ﷺ ددې په اړه و فرمایل : دا خپل ماشوم ازاده کړه او ددې امله چې الله ① دېته ماشوم ورکړو نو

په موجوده بيبيانو کې لدې لحاظ نه سر لوړې شوه او ماشوم ابراهيم تر يو کال او څو مياشتو واوښتو له هغې وروسته بېمار شو مخکې ددې چې دوهم کال يې هم پوره شي د آتلس مياشتو په عمر کې د سه شنبې په ورځ د ربيع ا لاول په لسم باندې د هجرت په لسم کال وفات شو په وفات يې حضرت مارية رضی الله تعالی عنها ډېره زياته خفه شوه له يوې خوا ډېر ښکلی ماشوم وو ، له يوې خو ا د سيد المخلوقات ماشوم وو، له بلې خوا ددېنه بغير د رسول الله ﷺ کوم بل ماشوم اوس نه وو ، له بلې خوا د همدې ماشوم په وجه دېته ازادي ورکړل شوې وه او د همدې ماشوم په وجه خو دا په ټول کور کې سر لوړې شوې وه او داسې نورې وجې وې چې ماريه قبطية رضی الله تعالی عنها يې زياته خفه کړه .

دا مبارکه د هجرت په شپاړسم کال په محرم کې وفات شوه او په بقيع کې خاورو ته وسپارله شوه ددې د وفات په اړه ابن منده فرمايي : حضرت مارية رضی الله تعالی عنها د رسول الله ﷺ د وفات نه پنځه کاله وروسته وفات شوه .



# حضرت زینب (رض) بنت رسول الله ☸

دا هم د رسول الله ☸ لور وه مور یې حضرت خدیجة رضی الله تعالی عنها وه مور یې په خپل ژوند کې خپل د خور زوی ابو العاص ته ورکړې وه یو ماشوم یې وو امامة نومیدو .

ابو العاص د هغه کسانو څخه وو چې په مکه مکرمه کې د مال او امانت له نګاه نه یې ښه شهرت درلود مور یې هالة بنت خویلد د حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها خور وه او دا سپارښتنه یې هم حضرت خدیجې رسول الله ☸ ته کړې وه چې زینب به دا زما د خور زوی ته په نکاح ورکړو .

کله چې رسول الله ☸ د الله ① لور ته دعوت شروع کړو د مکې کفار را ټول شول او ابو العاص ته ورغلل ورته ویل یې دا د رسول الله ☸ لور پریږده په مکه کې چې ستا هرڅوک خوښ وي مونږ به له هغوی سره ستا نکاح وتړو ده ورته وویل نه والله ① زه خپله ښځه په هیڅ هم نه بدلوم او زه خپله ښځه ساتم او پریښودل یې نه غواړم دې بې بې ډیر کو ښښ وکولو چې هغه مسلمان کړي لکن کوښښ ناکام وو همدارنګه رسول الله ☸ هم ډیر کوښښ وکولو چې دا کس په اسلام مشرف کړي لکن ده اسلام قبول نه کړو .

يوه ورځ چې حضرت زينب رضی الله تعالی عنها ده ته د اسلام لوري ته ډېر دعوت ورکړو هېڅ ونه شول ده ورته وويل : والله ستا پلار مې خوښ دی او زه وربانديې د هېڅ درواغو يا دوکې يقين نه لرم ترتا نه ماته په يوه کورنۍ کې هم محبوب څوک نشته لکن ستا په اړه مې هم دا نه دي خوښ چې کوم وخت څوک پېغور درکړي چې ستا خاوند د پلرونو دين د خپلې ښځې د خوشحال کولو لپاره پرېښود او د ځان لپاره مې هم دا پېغور نه دی خوښ .

کله چې رسول الله ﷺ مديني منورې ته هجرت وکولو نو حضرت فاطمه او أم کلثوم يې ورپسې وروسته ور وغوښتلې قصه يې مخکې د حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها په واقعه کې تېره شوه او حضرت رقية رضی الله تعالی عنها د خپل خاوند حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه سره مهاجره شوې وه نو د رسول الله ﷺ په مبارکو لورانو کې صرف حضرت زينب پاتې وه چې د خپل خاوند په کور کې وه او دا په اسلام مشرفه شوې وه خاوند يې لا کافر وو مدينې منورې ته يې د ډېر شوق سره سره څه وسيله نشوای برابرولی چې لاړه شي .

پدې وخت کې چې د بدر واقعه مېنځ ته راغله ددې خاوند هم د مشرکانو سره په يو ځای د بدر په جنګ کې شرکت وکولو او هلته دی ژوندی ونيول شو او حضرت عبد الله بن جبير الانصاري ونيولو .

حکم وشو چې هربندي به د معلومو پیسو په بدل کې خلاصول کیږي او د هر بندي کورنۍ به مدینې منورې ته هغه معلومې پیسې راوړي او خپل بندي به وربانديې خلاصوي .

حضرت زینب رضی الله تعالی عنها چې په لاس کې پیسې څه نه درلودل نو یې د خپل خاوند د خلاصولو لپاره هغه غاړکۍ ولیږله چې دې ته یې خپلې مور حضرت خدیجې بي بي رضی الله تعالی عنها هغه وخت ورکړې وه کله چې ددې واده وو .

رسول الله ﷺ ته چې دا غاړکۍ ور ورسېده نو ویې لیده او ویې پېژندله چې هماغه وه کومه چې د حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها سره رسول الله ﷺ لېدلې وه زړه یې ورته سخت نرم شو او د حضرت زینب رضی الله تعالی عنها پدې حالت باندې خفه شو خپلو صحابه وو ﷺ ته یې وویل :

که چېرته تاسې کولی شئ چې ددې بندي مفت ور خوشې کړئ او ددې غاړکی بېرته دېته ور ولېږئ نو داسې وکوئ .

صحابه وو ورته وویل : هو یا رسو الله ﷺ مونږ همداسې کوو .

ابو العاص یې بې پیسو ور خوشې کړو او ددې غاړکۍ یې بېرته هغې مبارکې رضی الله تعالی عنها ته ور ولېږله لکن رسول الله ﷺ وربانديې یو شرط کېښودو هغه دا چې مونږ به تا مفت خوشې کړو ته

چې کله لاړ شي زينب به پرېږدي چې هغه دلته راشي نور به يې ته هلته نه حصاروې ده هم ورسره ومنله .

کله چې ابو العاص مکې مکرمې ته را ورسېدو نو يې حضرت زينب رضی الله تعالی عنها تياره کړه د سفر سامان يې ورته برابر کړو خپل ورور کنانة بن الربيع يې ورسره کړو هغه اوښ را وستلو دا مبارکه رضی الله تعالی عنها وربانديې سپره شوه کنانة د اوښ پړی ونيولو په رڼا ورځ کې د مکې مکرمې نه روان شول په مکه کې خلکو پدې اړه خبرې وکولې چې دا څنګه کېدای شي په بدر کې ددې پلار ☸ زمونږ د مکې ټول مشران ووژل او دا به اوس صحيح سلامته مدينې منورې ته ځي؟

څه کسان پسې ور ووتل په ذی طوی ځای کې يې دوی را ګير کړل يو کس د هبار بن الاسود بن المطلب بن اسد بن عبد العزی الفهري ور وړاندې شو اوښ يې په نېزه باندې ووهلو دا مبارکه چې د اوښ په سر په کجاوه کې وه هغه کجاوه له اوښ نه را غورځېده پدې وخت کې د زينب رضی الله تعالی عنها حامله هم وه د هغه غورځېدو له امله هغه ماشوم ضائع شو کنانة خپل غيشی را وويستلو او ټولو خلکو ته يې وويل څوک دې را نېږدې شي دا خپل غيشی پرې ور پرېږدم نو ټول خلک ترينه لرې شول .

ابـو سفـيـان ورتـه را وړانـدې شو ورتـه ويـل يـې :
تـه د اغيشى سم کړه زه درسره خبـره کـوم .
هغه د غيشى مخه لـه ده څخه واړولـه هغه ورتـه
راغـلـو ورتـه ويـل يـې : ګـوره تـاتـه هغه هرڅه
مـعـلـوم دي چې د مـحـمـد ﷺ لـه لـوري مـونـږ تـه را
رسېدلـې دي اوس تـا د هغه لـور داسې په رڼـا ورځ
بـانـدې را وويـستـلـه صحيح سلامـتـه يـې هغه ﷺ تـه ور
رسول غواړې دا تـه ښه کـار نـه کـوې تـا غلط کـار
وکـولـو چې پـه رڼـا ورځ کې را ووتـلـې دا زمـونـږ
کـمـزوري ښکـاره کـوي او دا زمـونـږ لـپـاره د شرم
ځای دی زمـا د پـه خپـل عمر بـانـدې قسم وي چې دا
مـونـږ لـه خپـل پـلار نـه دلـتـه حصاره کړو دې تـه
زمـونـږ هېڅ ضرورت نـشتـه مـونـږ نـه غواړو چې دا
دلـتـه بـنـدي کړو بـلـکه داسې پـه ښکـاره سره لـه
مـونـږ نـه صحيح سلامـتـه تـلـل زمـونـږ لـپـاره شرم دی
داسې وکـوه چې اوس دا بـېرتـه و ګرځـوه د شپې پـه
تـيـاره کې بـيـا را ووزئ او دا يـې خپـل پـلار تـه ور
ورسوه هېڅوک هم تـاتـه څه نـه وايـي دا خبـره دده
زړه تـه ور نـنـوتـلـه او همداسې يـې وکـول .
حضرت زيـنـب رضی الله تـعـالـی عنـهـا مـديـنـې مـنـورې تـه
لاړه او خـاونـد يـې د کـفـر پـه حـالـت کې پـه مـکـه
مـکـرمـه کې پـاتـې شو د مـکې تـر فـتـح نـه يـو څه وخت
وړانـدې ابـو الـعـاص د يـوې قـافـلـې سره د قـريـشو د
تـجـارت لـپـاره شـام تـه تـلـلـى وو لـه هغې خوا نـه چې

راتلو نو په لاره کې د رسول الله ﷺ د ملګرو د يوې سريې سره مخامخ شو هرشی يې ترې واخيستل دی د شپې په تياره کې په تېښته برياله شو او مدينې منورې ته يې زينب رضی الله تعالی عنها ته ځان را ورسولو دهغې نه يې امان و غوښتو هغې ورته امان ورکړو .

کله چې سحر وختي رسول الله ﷺ مانځه ته و درېدو الله اکبر يې وويل خلکو هم اقتداء پسې وکوله حضرت زينب رضی الله تعالی عنها د زنانه وو له خوا نه اواز وکولو ويل يې : ما ابو العاص بن الربيع ته امان ورکړی دی کله چې رسول الله ﷺ سلام وګرځولو نو ويې ويل : ای خلکو تاسې هغه څه واورېدل کوم چې ما واورېدل؟ دوی ورته وويل هو!

رسول الله ﷺ وويل : زما د په هغه ذات قسم وي چې د محمد نفس يې په لاس کې دی زه په هېڅ هم نه يم خبر تردې چې ما هغه څه واورېدل کوم چې تاسې واورېدل ..

بيا خپلې لور حضرت زينب رضی الله تعالی عنها ته ورغلو ورته يې وويل : دهغه عزت وکوه او خپل ځان ته يې نږدې مه در پرېږده ته هغه ته نه يې روا .

بيا رسول الله ﷺ د خلکو نه وغوښتل چې هغوی ته هر هغه څه ورکړي چې له دوی نه اخستل شوي دي

ده هغه ټول شیان را ټول کړل او مکې ته روان شو هلته یې ټولو خلکو ته د هغوی مالونه ور وویشل بیا یې خلکو ته اعلان وکولو ای قریشو ! په ما باندې د چا حق پاتې شو؟

خلکو ورته وویل : نه بس تا په خپل امانت باندې ډېره ښه وفا وکوله ته د عزت خاوند یې .

ده وویل : نو ښه ده زه اوس ددې ګواهي ورکوم چې الله ① یو دی شریک نه لري محمد ﷺ د الله ① رسول دی زه د اسلام نه په مدینه کې صرف دې خبرې بند کړی وم چې تاسې به بیا ګمان کوئ چې ما ددې لپاره اسلام قبول کړو چې ستاسې مالونه وخورم کله مې چې ستاسې مالونه تاسې ته درکړل بس زه اوس ترې فارغ شوم نو ځکه مې اوس خپل اسلام اعلان کړو .

بیا را ووتلو تردې چې مدینې منورې ته را ورسېدو رسول الله ﷺ ته راغلو وروسته د شپږو کلونو څخه یې حضرت زینب رضی الله تعالی عنها بېرته په هماغه زړه نکاح باندې ورکړه .

دا مبارکه رضی الله تعالی عنها چې کله هبار بن الاسود غورځولې وه دهغه وخت نه وروسته یې تکلیف درلود او دهغه وخت غورځېدلو نه دې مبارکې ته ضربه رسېدلې وه د هجرت په آتم کال یې تکلیف زیات شو او په مدینه منوره کې په حق ورسېده ددې امله ددې په شهادت کې هېڅ شک نشته .

مور يې حضرت خديجة رضى الله تعالى عنها وه تر نبوت وړاندې عتبه بن ابي لهب ته په نكاح وركړل شوې وه كله چې رسول الله ﷺ د الله ① له لوري نه پيغمبر شو ابو لهب يې خپل زوى ته وويل : زما سر ستا له سر نه حرام دى (ته عاق يې) كه تا د رسول الله ﷺ لور طلاقه نه كړه مخكې ددې چې واده يې وشي هغې ته يې طلاق ددې لپاره وركړو چې رسول الله ﷺ ددې په حالت باندې وځوروي .

د يوه روايت له مخې ابو لهب خپلو دوو زامنو عتبه او عتبية ته د رسول الله ﷺ دوه لوراني په نكاح كړې حضرت رقية او حضرت أم كلثوم رضى الله تعالى عنهما كله چې رسول الله ﷺ د مكې قريش د الله ① لور ته را وبلل او هغوى يې د بتانو له عبادت څخه منع كړل نو هغوى يې دواړه لوراني بېرته ورته طلاقې كړې ددې لپاره چې دى ﷺ پرې خفه كړي .

كله چې د حضرت رقية رضى الله تعالى عنها مور حضرت خديجة په اسلام مشرفه شوه نو حضرت رقية هم په اسلام مشرفه شوه .

كله چې د ابي لهب زوى طلاقه كړه بيا يې حضرت عثمان بن عفان رضى الله تعالى عنه ته په نكاح وركړه حضرت عثمان هغه كس وو چې په ديانت

مالداري ښائست او هرڅه کې په مکه کې وتلی وو له اول نه هم چې کله دی خبر شو چې محمد ﷺ خپله لور د ابي لهب زوی ته ورکړه نو دی ورباندې خفه شوی وو لکن بالآخره الله ﷻ بېرته همده ته ورکړه الله ﷻ ده ته ترېنه یو زوی ورکړو عبد الله نومیدو او حضرت رقیة رضی الله تعالی عنها ته أم عبد الله هم ویل کیږي .

کله چې په مکه مکرمه کې په مسلمانانو ژوند سخت شو نو رسول الله ﷺ صحابه وو ته اجازه وکوله چې حبشې ته هجرت وکوي هلته ښه ژوند وو څوک چې تللي وو هلته یې په ارام سره د خپل دین کارونه کولی شول د چا ورباندې اعتراض نه وو کله چې حضرت عثمان ؓ حبشې ته د تللو اراده وکوله نو رسول الله ﷺ ورته وویل رقیه هم له ځان سره بوزه بیا چې کله د دوی د سفر وخت وو حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها یې پسې ور ولېږله چې احوال یې راوړي هغه لاړه ویې کتل بېرته راغله رسول الله ﷺ ته یې وفرمایل : ما ولیدل چې حضرت عثمان ؓ هغه په خره باندې سپره کړه او د بحر په لور یې حرکت وکولو بیا رسول الله ﷺ حضرت ابو بکر صدیق ؓ ته ویل : د حضرت لوط او حضرت ابراهیم علیهما السلام نه وروسته دا اول مهاجرین دي .

بیا له حبشې نه دواړه مدینې منورې ته لاړل کله چې مسلمانان بدر ته وتل نو رسول الله ﷺ حضرت عثمان ته ویلي وو چې ته ددې امله له مونږ سره مه ځه چې حضرت رقیة رضی الله تعالی عنها بیماره وه او هغه بیماري یې سخته شوه او له هماغه بیماري نه وفات شوه ښځې را ټولې شوې وربانديې ژړل یې حضرت عمر ❽ هغوی په دُره وهلې او ژړا ته یې نه پرېښودې .

رسول الله ﷺ یې لاس ونیولو او ورته ویل یې : پرېږده چې وژاړي .

بیا یې ورته و فرمایل : وژاړئ او د شیطان په شان رمباړې مه وهئ هغه چې د زړه او سترګو نه وي هغه ژړا رحمت وي او د الله له لوري نه دا رحمت د انسانانو په زړونو کې اچول شوی دی او هغه چې په لاس او ژبه سره وي (ځان پکې وهل کیږي او په ژبه فریاد کیږي) دا د شیطان له لوري نه وي .

د ښځو په وخت کې یې حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها د قبر په خوا کې ناسته وه ژړل یې او رسول الله ﷺ به د هغې مبارکې له سترګو نه اوښکې وچولې .

ددې روایت په اړه ځینې خلک فرمایي : کله چې رقیة وفات کېده رسول الله ﷺ په بدر کې وو نو دا واقعه به د بل چا وي او یا د اچې دوی کله له

بدر نه را ستانه شول نو بیا یې قبر ته ورغلل .

## حضرت أم کلثوم (رض) بنت رسول الله

دا هم د رسول الله ﷺ لور وه مور یې حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها وه .
تر اسلام وړاندې دا عتیبة بن ابي لهب ته په نکاح ورکړل شوې وه مخکې ددې چې واده ورباندې جوړ کړي رسول الله ﷺ مبعوث شو کله چې رسول الله ﷺ د مکې خلک اسلام ته را وبلل او هغوی یې د بتانو له عبادت څخه منع کړل نو ابو لهب خپل زوی ته وویل چې د محمد ﷺ لور ور طلاقه کړه ترڅو هغه ورباندې خفه شي او هسې هم کفارو د رسول الله ﷺ په اړه د هرډول زیاتي کولو څخه مخ نه اړولو او دا کار هم یو له هغه کارونو څخه وو چې غرض او مطلب یې صرف رسول الله ﷺ ته یو ډول تکلیف ورکول وو او بس .
او نور کفار هم عتیبة ته راغلل چې د محمد لور ور خوشې کړه چې ستا بل هرڅوک خوښ وي مونږ به یې تاته په نکاح کړو ده ورته وویل که تاسې ماته د ابان بن سعید بن العاص او یا د سعید بن العاص لور په نکاح راکړئ نو زه به د محمد

ﷺ لور ورطلاقه کړم بیا یې د سعید بن العاص لور په نکاح ورکړه او حضرت أم کلثوم رضی الله تعالی عنها یې ترېنه طلاقه کړه او تردې دمه لا د دوی واده نه وو شوی .


کله چې عتیبة د رسول الله ﷺ لور مبارکه طلاقه کړه ددې لپاره چې رسول الله ﷺ ته ښه پوره ازار ورکړي نو په رسول الله ﷺ پسې راغلو ورته ویل یې : ته له خپل دین څخه واوښتې ما ستا لور در طلاقه کړه بیا یې رسول الله ﷺ ته لاس ور واچولو او دهغه ﷺ مبارک قمیص یې ور باندې وشکولو بیا رسول الله ﷺ ورته ښېرا وکوله ورته ویل یې : زه د الله ① نه غواړم چې په ده باندې سپی مسلط شي .

عتیبة څه وخت وروسته د تجارانو سره د شام په لور سفر وکولو تردې چې یو ځای ته ورسېدو چې زرقاء یې ورته ویل : یو زمری راغلو د شپې تر دوی تاو شو عتیبة ویل : وی مورې! دا زمری لکه چې ما خوري لکه محمد ﷺ چې ماته ښېرا کړې وه زه ابن ابي کبشه مړ کړم پداسې حال کې چې هغه په مکه کې دی او زه په شام کې یم د خلکو په مینځ کې زمري صرف په ده باندې حمله وکوله خوله یې ورباندې ولګوله او څو ځله یې و څنلو او مړ یې کړو .

كله چې حضرت رقية رضی الله تعالی عنها د هجرت په دريم كال وفات شوه حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه ورپسې ډېر زيات خفه وو حضرت ابو هريره ❽ فرمايي رسول الله ☸ د حضرت عثمان ❽ سره د جومات په دروازه كې مخامخ شو ورته ويل يې : ای عثمانه دا جبريل دی ماته وايي چې الله تاته أم كلثوم په هغه مهر كې په نكاح دركړه څومره چې د حضرت رقية وو .

په يو روايت كې دي چې رسول اللّه ☸ فرمايل : كه زما څلوېښت لوراني وی نو يوه يوه به مې حضرت عثمان ❽ ته وركوله ترڅو چې يوه هم نه وی پاتې .

د هجرت په نهم كال په شعبان كې وفات شوه حضرت اسماء بنت عميس او حضرت صفية بنت عبد المطلب رضی اللّه تعالی عنهما ورته غسل وركړو د يو روايت له مخې د انصارو څه ښځو ورته غسل وركړو چې أم عطية رضی الله تعالی عنها هم پكې وه .



# حضرت فاطمه (رض) بنت رسول الله ☸

نسب يې :

د پلار له لوري : فاطمة بنت رسول الله محمد ☸ بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

والده رضى الله تعالى عنها يې : خديجة بنت خويلد بن أسد بن عبد العزى بن قصي بن كلاب بن مرة بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

لقبونه يې :

الزهراء .

دې مبارکې ته دا نوم هم اختتل کېدلو ځکه دا مبارکه په رنګ کې سپينه او سور والى پکې وو او هغه رنګ چې سور او سپين رنګ پکې وي عرب ورته ازهر وايي او مونث يې زهرا دى .

البتول .

دا له تبتل څخه دى جدايي او له شځو نه بېلتون ته وايي او دېته ځکه بتول ويل کېدل چې دا په نېکو صفاتو کې د دنيا له شځو نه بېله وه .

الصديقة .

صدیقه په عربي کې رښتونې ته وايي او دا مبارکه رضی الله تعالی عنها ددې لقب رښتونی مصداق وو چې همېشه به يې رښتیا ویل .

الطاهرة .

د طاهرة معنی ده پاکه او ښکاره خبره ده چې په پوره پیمانه د الفظ صرف په دې مبارکه باندې په ښه توګه صادق وو .

الحوراء الانسیة .

یعني انساني حوره رسول الله ﷺ د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها په روایت کې فرمایي کله چې زه جبریل ؑ جنت ته ننه ایستلم او یوه منه یې راکړه ما چې هغه وخوړه د هغې نه زما په بدن کې ماده جوړه شوه کله چې زه د حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها سره یو ځای شوم د هغه وخت نه حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها پیدا شوه هغه حوراء الانسیة (انساني حوره) د زما چې کله جنت ته زړه وشي زه حضرت فاطمة رضی الله تعالی عنها ښکل کړم .

أم الائمة

یعني د امامانو مور په رښتیا سره چې دا مبارکه رضی الله تعالی عنها د حضرت حسن او حضرت حسین رضی الله تعالی عنهما مور وه .

المنصورة .

الصادقة .

المحدثة .

الريحانة.
البضعة.
دا ټول ددې مباركې لقبونه وو.
دا مباركه رضى الله تعالى عنها د رسول الله ﷺ تر ټولو كشره لور وه او دهغې هستي لور وه چې په ټول عالم كې اول په اسلام مشرف شوې وه.
او دهغه هستي په نكاح كې وه چې د ماشومانو له دنيا نه اول په اسلام مشرف شوى وو حضرت علي ❽ او له ماشوم توب نه د رسول الله ﷺ غښتلى مجاهد وو او د اسلام څلورم خليفه وو او حضرت فاطمه رضى الله تعالى عنها د سيدا شباب اهل الجنة حضرت حسن او حضرت حسين رضى الله تعالى عنهما مور بي بي وه.
د حضرت فاطمې رضى الله تعالى عنها تولد د جمعې په ورځ د جمادي الثاني په شلم د بعثت نه پنځه كاله وړاندې وو او دا هغه كال وو چې رسول الله ﷺ د كعبې مباركې په تعمير كې له قريشو سره شركت كولو او كله چې ټول قريش پدې سره وران شول چې د حجر اسود په خپل ځاى د كېښودلو سعادت بايد څوك حاصل كړي نو هغه حل هم ورته رسول الله ﷺ را ويستلى وو تفصيلي قصه يې په مخكې برخو كې تېره شوېده.
حضرت خديجه رضى الله تعالى عنها به چې له فاطمې رضى الله تعالى عنها سره وه ډېره زياته به

خوشحاله وه چې دې مبارکې ته به يې کتل ځکه ددې حرکات او سکنات يې اکثر خپل والد محترم ☸ ته ورته وو .

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي ما تر فاطمې رضی الله تعالی عنها ځخه زيات ځوک د رسول الله ☸ سره مشابه نه دي ليدلي .

حضرت ابو هريره ❽ روايت کړی دې چې رسول الله ☸ فرمايل : د فاطمې نوم فاطمه ددې امله کېښودل شو چې الله ☸ دا له اور نه ساتي او فطم پرې کولو ، قطع کولو او لرې کولو ته وايي .

ځرنګه چې حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها د رسول الله ☸ په مبارک کور کې را لويه شوه له ماشوم توب نه په ښواو غوره خويونو باندې ښکلې وه دا د پنځو کلونو وه چې رسول الله ☸ ته وحی راتلل شروع شول له هغه وخت نه ددې رضی الله تعالی عنها په ژوند کې هم مشکلات را ټوکېدل شروع شول او کله به چې رسول الله ☸ د مشرکينو له خوا ځورول کېدو نو دا رضی الله تعالی عنها به هم ورسره ځورېده  او هغه ډېر سخت حالت وو کله چې دې وکتل  رسول الله ☸ په سجده پروت وو او د مکې مکرمې کم عقل قريش  عقبة بن ابي معيط ګندګي را واخيسته او د رسول الله ☸ په سر يې ور

وغورځوله دا مبارکه پخپله راغله او د رسول الله ﷺ د سر نه يې هغه ګندګي لرې کړه .

په هغه وخت کې ددې ژوند هم له تکليفونو څخه ډک شو کله چې د مکې قريشو په بني هاشم کورنۍ باندې د دريو کلونو لپاره د خوراکي توکيو بنديز ولګولو او د دوی نه يې غوښتل چې محمد ﷺ دې دوی ته حواله کړي او پدې دريو کلونو کې د خوراکي توکيو دومره سختي راغله چې خلک دې ته اړ شول چې د ونو پاڼې وخوري او صرف په پټه لاره د شپې په ډېر تکليف يو څه محدود خوراک هلته ور رسېدلو نوري ټولې لارې وربانډې تړل شوې وې .

دا وخت چې د فاطمې رضی الله تعالی عنها د ماشوم توب وخت وو نو ددې په صحت باندې زيات تاثير پرېوتلو او پدې دريو کلونو کې دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ته د کافي خوراک د نه رسېدلو له امله ددې صحت خراب شو او ټول عمر به يې ددې امله تکليف ليدلو او بيمارېدله به لکن بيا هم الله ① تينګ ايمان او ايماني قوت ورکړی وو د الله ① په عبادت کې يې هېڅ کمی نه کولو او د خپل والد محترم سره په هر مشکل کې داسې څنګ په څنګ ولاړه وه چې رسول الله ﷺ به کله هم د تنهايي احساس نه کولو او هغه ټوله مرسته يې ورسره کوله کومه به چې ددې مبارکې مور رضی الله

تعالی عنهما له رسول الله ﷺ سره کوله ددې امله ددې په نومونو کې یو نوم أم ابیها (د خپل پلار مور) هم دی .

کله چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ورسېدو په دوی پسې یې قاصد را ولېږلو دا او أم کلثوم رضی الله تعالی عنهما د هغه سره مدینې منورې ته لاړې او حضرت علي رضی الله تعالی عنه د ا وخت په مکه مکرمه کې ددې لپاره پاتې شو چې ځینې خلکو د رسول الله ﷺ سره امانتونه ایښي وو رسول الله ﷺ ده ❽ ته امر کړی وو چې خلکو ته یې امانتونه ور وسپاره او بیا ته هم راځه .

دوی دواړه مبارکې خویندې رضی الله تعالی عنهما چې کله د مکې مکرمې نه بهرته را ووتلې مدینې منورې ته روانې وې نو دا سفر یې په امن سره پای ته ونه رسېدو لږ ساعت وروسته یو کافر حویرث بن نقیذ ورپسې ورغلو او دوی یې دواړه له اوښ نه زمکې ته را وغورځولې پدې وخت کې فاطمه رضی الله تعالی عنها ډېره زیاته کمزورې وه هغه اوښ یې ددوی څخه و ګرځولو او دوی یې په پښو باندې مدینې منورې ته پرېښودې بیا هغوی دا تولې لاره په پښو باندې ووهله رسول الله ﷺ د دوی په تکلیف باندې ډېر زیات خفه شو او د هغه کس په اړه یې وویل څوک یې چې مړ کړي ورته اجازه ده .

کله چې مدینې منورې ته لاړل هلته د رسول الله ﷺ خپل کور شو نو رسول الله ﷺ د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها سره واده وکولو نو ډېرو مشرانو صحابه وو چې تر اوسه پورې ددې امله حضرت فاطمه له رسول الله ﷺ څخه نه غوښته چې دوی ویل د رسول الله ﷺ په کور کې د فاطمې رضی الله تعالی عنها ضرورت دی نو اوس پوهېدل چې عائشه رضی الله تعالی عنها اوس د رسول الله ﷺ په کور کې شته نو د حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها غوښتلو پسې یو په بل پسې راتلل لکن رسول الله ﷺ به دوی ته عذر ویل تردې چې څه انصارو حضرت علي رضی الله تعالی عنه ته د فاطمې رضی الله تعالی عنها د غوښتلو مشوره ورکړه او دی یې پدې کار کولو ور زړور کړو تردې چې د حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها د غوښتلو لپاره د رسول الله ﷺ مجلس ته حاضر شو یو څه وخت په مجلس کې کېناستو زړه یې ونشوای کولی چې رسول الله ﷺ ته دا خبره ور یاده کړي رسول الله ﷺ پوه شو چې دده په زړه کې څه دي لکن دی نشي ویلی نو یې ورڅخه پوښتنه وکوله د ابي طالب د زوی څه ضرورت دی؟ .

حضرت علي ﷺ ورته ویل : ما فاطمه بنت رسول الله ﷺ یادوله .

رسول الله ﷺ ورته وویل : په خیر راغلې هر کله راشي .

دې خبرې د حضرت علي ؓ زړه ته خوشحالي ور ننه ایسته او په مطلب یې پوه شوه چې د رسول الله ﷺ مطلب دی هو یو څه وخت وروسته یې بیا له رسول الله ﷺ سره خبرې وکولې او یوه زغره یې بې بې ته په مهر کې ورکړه رسول الله ﷺ د دوی لپاره دعا وکوله :

اللهم بارك فیهما وبارك علیهما وبارك لهما في نسلهما

ترجمه : ای الله په دوی کې برکت واچوه او په دوی باندې خپل برکت نازل کړه او د دوی په نسل کې برکت واچوه .

د حضرت علي ؓ په کور کې د حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها ژوند په یو غریب کور کې ژوند وو نعمتونه او راحتونه د دوی په کور کې نه وو حضرت علي ؓ فرمایي : کله چې ما د فاطمې رضی الله تعالی عنها سره واده وکولو زمونږ په کور کې د ګډ (پسه) یوه څرمن وه د شپې به وربانديې څملاستو او د ورځې به وربانديې کېناستلو .

د کور کارونه ټول بې بې ته ور پاتې وو او حضرت علي ؓ به په کارونو کې ورسره مرسته کوله یو وخت چې د رسول ا لله ﷺ سره خادمان

پیدا شول غلامان وو نو حضرت علي ❽ حضرت فاطمې ته وویل : که دې پدې وخت کې د خپل والد محترم ☸ نه د ځان لپاره خادم غوښتی وی ؟

دا مبارکه راغله د رسول الله ☸ په مجلس کې حاضره شوه لکن وشرمېده او سوال یې ترې ونه کولو رسول الله ☸ ورځخه پوښتنه وکوله لورې څنګه راغلې یې؟ دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته و فرمایل : صرف ستاسې سلام ته راغلې وم .

سبا بیا ورته راغله رسول الله ☸ ورته وویل : لورې څه شی دې په کار دي؟ دا غلې شوه بیا حضرت علي ❽ ورته وویل : زمونږ د کور کار زیات دی او دا فاطمه رضی الله تعالی عنها په میچن باندې دومره ډېر غنم اوړه کړل چې په لاسونو کې یې فرق راغلو او له تاسې سره خو اوس غلامان شته که مونږ ته مو یو خادم راکړی وای ؟

رسول الله ☸ ورته وویل : نه والله دا زه اوس تاسې ته نشم درکولی هلته اصحاب الصفة (د رسول الله ☸ طالبان) ډېر زیات وږي دي لما سره دومره څه نشته چې په هغوی باندې خوراک وکوم نو زه دا خرڅول غواړم او پیسې یې په هغوی باندې مصرف کول غواړم .

دوی د واړه بېرته کور ته را ستانه شول حضرت رسول الله ﷺ په دوی پسې راغلو چې که دوی خفه شوي وي نو خوشحال به يې کړي او د دوی په کور کې يې دوی ته په مهرباني سره ويل : زه تاسې ته داسې څه در وښيم چې له هغه څه نه غوره وي د کوم چې تاسې سوال کړی وو؟ دوی ورته وويل هو راته وښايه يا رسول الله ﷺ .

رسول الله ﷺ ورته ويل : دا څه کلمې دي ماته حضرت جبريل را ښودلي دي د هر مانځه څخه وروسته : لس ځله سبحان الله لس ځله الحمد لله او لس ځله الله اکبر واياست او کله چې د شپې خپلې بسترې ته تلئ نو دري ديرش ځله سبحان الله دري ديرش ځله الحمد لله او څلور ديرش ځله الله اکبر واياست .

د حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها په جولی کې هغه وخت نېکبختي و غورځېده چې اول ماشوم يې پيدا شو د هجرت په دريم کال رسول الله ﷺ وربانډې ډېر زيات خوشحال شو په غوږ مبارک کې يې اذان ورته وکولو او حسن نوم يې وربانډې کېښودو په اومه ورځ يې عقيقه وربانډې وکوله وېښته يې وربانډې غوڅ کړل او دهغه وېښتو په اندازه وزن يې سپين زر خيرات کړل په مخ مبارک کې حضرت حسن ؓ رسول الله ﷺ ته ډېر زيات ورته شوی وو حضرت حسن ؓ د يو کال وو چې حضرت حسين

❽ ورپسې پيدا شو د هجرت په څلورم کال دوا ړو د رسول الله ﷺ په زړه کې د مينې ځای درلود او رسول الله ﷺ به فرمايل : يا الله ① زه د دوی دواړو سره محبت کوم ته يې محبوب و ګڼې او هغه څوک محبوب وګڼې چې له دوی سره مينه کوي د هجرت په پنځم کال يې ماشومه پيدا شوه چې رسول الله ﷺ وربانديې زينب نوم کېښود او دوه کاله وروسته يې بله ماشومه پيدا شوه رسول الله ﷺ د هغې لپاره أم کلثوم نوم خوښ کړو .

رسول الله ﷺ د فاطمې رضی الله تعالی عنها سره بې ساري مينه کوله او کله به چې له مدينې منورې نه بهر ته تلو په ټوله کورنۍ کې به يې وروستني ليدل د حضرت فاطمې سره وو او کله به چې له سفر نه را ستون شو اول به جومات ته لاړو دوه رکعته مونځ به يې وکولو او بيا به يې اول ليدل له فاطمې رضی الله تعالی عنها سره وو او بيا به د نورو بيبيانو سره ملاقي شو .

رسول الله ﷺ به فرمايل : حضرت فاطمه زما ټوټه ده چا چې هغه غصه کړه زه يې غصه کړم او رسول الله ﷺ به چې د فاطمې رضی الله تعالی عنها سره کوم زيور يا بل داسې څيز وليدو نو دېته به يې ويل دا خرڅ کړه او قېمت يې خيرات کړه ځکه چې په رسول الله ﷺ دا ډېره زياته ګرانه وه او په هغه

څه يې ورته امر کولو چې ددې د آخرت لپاره غوره خبره وه .

يو وخت حضرت علي ❽ غوښتل چې د ابي جهل د لور سره نکاح وکوي رسول الله ☸ پدې خبره غصه شو او خلکو ته يې خبرې کولې او ورته يې وفرمايل : بېشکه هشام بن مغيره زما نه اجازت غوښتى دى چې دوى خپله لور علي بن ابي طالب ته په نکاح ورکړي زه هغوى ته اجازه نه ورکوم بيا اجازه نه ورکوم او بيا اجازه نه ورکوم مگر که علي بن ابي طالب غواړي چې زما لور طلاقه کړي او دهغوى لور په نکاح واخلي زه کوم حلال شى نه حرام کوم او نه کوم حرام شى حلال کوم لکن الله ① به نه جمع کوي د رسول الله ☸ او د الله ① د دشمن لور په يو کور کې هېڅکله .

بيا ددېنه وروسته حضرت علي ❽ هغه اراده پرېښوده .

د رسول الله ☸ تر وفات وړاندې چې کله حضرت فاطمه رسول الله ☸ ته راغله نو په خوا کې ورسره کېناسته رسول الله ☸ څه پټې خبرې ورسره وکولې حضرت فاطمې رضى الله تعالى عنها وژړل او بيا يې څه پټې خبرې ورسره وکولې نو بيا په خندا شوه حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها فرمايي چې ما ددې خندا او ژړا دواړو ته کتل بيا ما ورڅخه

پوښتنه وکوله چې ولې دې وژړل او ولې د وخندل لکن دې ځواب را نه کړو ځکه چې د والد محترم ﷺ راز یې نه ښکاره کول غوښتل .

بیا چې کله رسول الله ﷺ وفات شو نو ما ورځخه پوښتنه وکوله دې مبارکې راته وویل : اول یې راته پټ وویل چې په هرکال کې به یو ځل جبریل راتلو لما سره به یې قرآن کریم تېرولو او سږ کال دوه ځلې راغلو نو داسې ښکاره کیږي زما د اجل وخت را نیږدې شوی دی ته به صرف صبر کوې دې خبرې زه وژړولم .

بیا یې راته وویل : ای فاطمې ته پدې نه یې خوشحاله چې په آخرت کې به ته د ټولې دنیا د ښځو مشره وې او زما په کور کې به ته تر ټولو وړاندې اول په ما پسې راځې ؟ دا مبارکه وایي چې بیا ما وخندل .

کله چې په رسول الله ﷺ باندې تکلیف زیات وو نو فاطمه رضی الله تعالی عنها یې په خوا کې ناسته وه او فریاد یې کول چې دا زما په پلار څومره تکلیف دی رسول الله ﷺ ورته و فرمایل : لورې د نن څخه وروسته به ستا په پلا رباندې تکلیف نه وي .

کله چې د رسول الله ﷺ د وفات وخت را نیږدې شو حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها وژړل رسول الله ﷺ ددې اواز واورېدو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

ای بچی مه ژاړه کله چې زه وفات شوم ته ووایه انا لله و انا الیه راجعون هر انسان ته چې مصیبت ورسیږي او بیا دا ووایي الله ﷺ د هغه مصیبت عوض ورکوي حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها ورته وویل : ستا عوض هم یا رسول الله ﷺ ؟ رسول الله ﷺ ورته وویل : زما عوض هم .

کله چې رسول الله ﷺ وفات شو حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها حضرت انس ❽ ته فرمایل : تاسې ځنګه وکولی شول چې په رسول الله ﷺ باندې مو خاورې اړولې؟ حضرت فاطمې وژړل او صحابه یې هم وژړول .

د رسول الله ﷺ د وفات څخه یو څه وخت وروسته هغه رضی الله تعالی عنها هم بیماره شوه او د بیماري وخت یې ډیر نه وو یو څه وخت بیماري یې تېره کړه او په همدې کال کې د جمادی الثاني په دریم د یو قول له مخې د جمادي الثاني په شلم او د یو غوره قول له مخې په همدې کال کې د دوشنبې یا سه شنبې په شپه د رمضان په یولسم تاریخ د ۲۹ کلونو په عمر کې په حق ورسېده .



## حضرت خديجه د هر غم تسلي

حضرت رسول الله ﷺ فرمايي چې زما په ژوند کې داسې غم نه وو چې د حضرت خديجې رضى الله تعالى عنها سره په خبرو او د هغې سره په تسکين باندې به نه سپکېدلو عفيف کندي وايي زه يو وخت په څه سودا کولو پسې مکې ته راغلم او د عباس سره مې شپه شوه سحر وختي چې د عباس سره راغلم ومې کتل په حرم کې يو ځوان راغلو سر يې اسمان ته پورته کړو او قبلې ته يې مخ کړو نيت يې وتړلو په مانځه و درېدو لږ وخت نه وو تېر شوى چې يو بل کس راغلو داولني ځوان په خوا کې هغه هم په مانځه ودرېدو او لږ وخت چې تېر شو يوه زنانه را ووتله او هغه هم د دوى دواړو په شا کې په مانځه ودرېده ما عباس ته وويل : داسې ښکاره کيږي لکه په مکه کې چې انقلاب راتلونکى وي.

عباس راته وويل : هو ! تاته معلومه ده چې دا درى کسان څوک دي؟

ما ورته وويل : نه زه يې نه پېژنم چې څوک دي .

بيا عباس راته وويل : دا ځوان او دا کشر ماشوم دواړه زما وريرونه دي هغه ځوان د

عبدالله بن عبد المطلب زوی محمد ﷺ دی او هغه کشر ځوان د ابوطالب بن عبدالمطلب زوی علي ؓ دی او شا ته ورپسې ولاړه ښځه زما د وراره محمد بن عبد الله ﷺ مېرمن خديجه بنت خويلد ده زما وراره دعوه کوي چې د هغه دين الهامي دی او هغه هر کار د الله ﷻ له لوري نه په حکم سره کوي لکن تر اوسه پورې د دوی نه بغير په دين کې تر اوسه پورې نور څوک نه دي داخل شوي د عباس ؓ دا خبرې مې چې واورېدې په زړه کې مې شوق پيدا شو چې کاش زه يې څلورم شوی وای .



# د حضرت سودة سره نکاح

کله چې حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها وفات شوه رسول الله ﷺ وربانديړ سخت خفه وو له یوې خوا یې بې بې په هر مشکل کار کې ملګرتیا کوله او له بله پلوه یې ورسه ډېره زیاته مینه وه او له بله پلوه به یې چې بې موره فاطمه لېده نو زړه به یې ورته سوزېدو او ډېر وخت به په کور کې د ننه وو بهر به نه راوتلو یو ورځ حضرت خوله بنت حکیم رضی الله تعالی عنها ورته راغله رسول الله ﷺ ته یې وفرمایل : له کومه وخته چې حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها وفات شوېده ته هروخت په غم کې وې .

ده ﷺ ورته وفرمایل : هو ! د کور کار او د ماشومانو پالنه ټوله دهغې په غاړه وو .

حضرت خوله بنت حکیم رضی الله تعالی عنها ورته وفرمایل : بیا تاسې ته د ژوند د یو ملګري ضرورت دی که ستاسې اجازه وي زه به تاسې ته بله نکاح وکوم؟

رسول الله ﷺ هم اجازه ورکړه .

حضرت خوله رضی الله تعالی عنها لاړه حضرت سوده رضی الله تعالی عنها ته یې پدې اړه وویل .

هغه هم ورته خوشحاله شوه د حضرت سودة رضی الله تعالی عنها والد محترم پخپله راغلو او د خپلې لور نکاح یې له رسول الله ﷺ سره پخپله د ٤٠٠ درهمو مهر په بدل کې وتړله .

کله چې د حضرت سودة رضی الله تعالی عنها ورور عبد الله (چې تر دې دمه لا په اسلام نه وو مشرف شوی) کور ته راغلو او ددې واقعې نه خبر شو ډېرې زیاتې خبرې یې وکولې او غصې یې وکولې او دا نکاح یې بد عمل و ګڼلو او زړه یې وو چې بېرته یې فسخ کړي لکه پلار یې ورته وویل چې اوس مونږ دا نکاح کړیده او دا بېرته نه ګرځي ... لکن کله چې عبدالله په اسلام مشرف شو ټول عمر یې په زړه داغ وو چې هغه وخت ما دومره بې عقلې ولې کوله او په هغه وخت کې مې بدې خبرې او غصه ولې کوله .

# د حجاب حکم

کله چې حضرت سودة رضی الله تعالی عنها د رسول الله ﷺ سره وه نو کله به د ضرورت لپاره بهر ته هم وتله پدې وخت کې ښځو ته د حجاب حکم لا نه وو شوی لکن بیا هم د حضرت عمر رضي الله عنه رایه دا وه چې د رسول الله ﷺ بي بي باید بهر ته لاړه نه شي یوه ورځ چې رسول الله ﷺ ته هم راغلو او دا خبره یې ورته وکوله چې دا بیبیانې باید بهر ته لاړې نه شي نو څرنګه چې رسول الله ﷺ ته د الله ① له لوري پدې اړه کوم حکم نه وور اغلی نو رسول الله ﷺ وربانديې چپ شو او ده ته یې څه ونه ویل .

بله ورځ چې د څه ضرورت لپاره حضرت سودة رضی الله تعالی عنها بهر ته وتلې وه په لاره کې حضرت عمر رضي الله عنه ورسره مخامخ شو سره ددې چې ددې مخ حضرت عمر رضي الله عنه ته نه ښکاره کېدو لکن دا مبارکه له قد نه لوړه وه نو حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل : سوده ما ته و پېژندلې ...

حضرت سودة رضی الله تعالی عنها چې د طبیعت نه هم یو څه تېزه وه نود حضرت عمر رضي الله عنه دا خبره وربانديې سخته او بده ولګېده او دده رضي الله عنه ددې خبرې په اړه یې رسول الله ﷺ ته شکایت وکولو ... ددېنه وروسته د حجاب په اړه آیتونه نازل شول

او بیبیانو ته امر وشو چې نور به په پرده کې اوسي .

## د حضرت عائشې (رض) سخاوت

یوه ورځ حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله تعالی عنه حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته یو لک درهمه ور ولېږل دې مبارکې ته چې ورسېدل شروع یې وربانديې وکوله هغه یې ټول خیرات کړل او پدې ورځ ددې مبارکې رضی الله تعالی عنها روژه هم وه چې کله یو درهم هم پاتې نه شو نو ددې زړه ارام شو لږ ساعت وروسته خادمې ورته ویل : کاش له هغه درهمونو څخه دې یو څه پرېښودي وای اوس به مو وربانديې د روژه ماتې لپاره غوښه اخیستې وه ..

دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته وویل : تا به هغه وخت ماته دا خبره رایاده کړې وه چې ما تقسیم کولو .

یعني د یولک درهمو په وېش کې دې مبارکې رضی الله تعالی عنها خپل ځان او خپل روژه ماتی هېر کړی وو .

یوه ورځ چې ددې مبارکې رضی الله تعالی عنها روژه وه په کور کې پدې وخت کې صرف یوه وچه ډوډی وه

يو سوالګر اواز وکولو دې خپل خادم ته وويل ورشه دا ډوډۍ سوالګر ته ورکړه .

خادم ورته ورته وويل : بيا به ته روژه په څه شي ماتوې؟

دې مبارکې وويل : څه ته اوس دا سوالګر ته ورکړه تر ماښام پورې تر اوسه وخت شته .

د ماښام نه لږ وړاندې چا د چېلۍ غوښه په تحفه کې را ولېږله دې مبارکې خپل غلام او خادم ته وويل : وګوره الله ① له هغې وچې ډوډۍ نه مونږ ته غوره شی راکړل

## دوستي او دښمني د الله ① لپاره

حضرت معاويه بن خديج د جهالت په دور کې د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ورور حضرت عبد الله بن ابي بکر ❽ شهيد کړی وو ددې امله يې د معاويه بن خديج ❽ سره طبيعت ښه نه لګېدو يو وخت دا خبره شوه چې په جنګي ځايونو او نورو کارونو کې معاويه بن خديج ❽ د خپلو ماتحت کسانو سره ډېره ښه رويه کوي د چا چې آس يا اُوښ ضائع شي هغه ته خپل حيوان ورکوي او که د چا نه غلام ورک شي او يا و تښتي هغه ته خپل غلام ورکوي نو دې مبارکې رضی الله تعالی عنها وفرمايل : استغفر الله په چا کې چې داسې نېک

صفات وي زه دهغه کس نه ولې پدې خفه شم چې هغه زما د ورور قاتل دی ما د رسول الله ﷺ نه دعا آورېدلې ده چې هغه ﷺ په خپله دعا کې فرمايل : ای الله څوک چې زما د امتيانو سره نرمي کوي ته ورسره نرمي وکوه او څوک چې زما د امت سره سختي کوي ته ورسره سختي وکوه .

## خپلې لور ته نصيحت

د بخاري شريف په يو حديث کې دې چې حضرت حفصة رضی الله تعالی عنها په طبيعت کې يو څه تېزه وه او کله به يې رسول الله ﷺ ته هم د خبرې ځواب په خبرو کې ور ګرځولو حضرت عمر ❽ ورته راغلو ورته ويل يې :

لورې زه خبر شوی يم چې کله کله ته رسول الله ﷺ ته په خبرو کې ځواب ور ګرځوې؟


دې مبارکې رضی الله تعالی عنها ورته وويل : هو! کله کله يې کوم .

حضرت عمر ❽ ورته وفرمايل : لورې له الله ① نه وډاره شه ته له هغه ښځې (حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها) سره ځان مه برابروه چې له هغې سره د رسول الله ﷺ د زيات محبت له امله هغه په خپل ښائست فخر کوي .

حضرت حفصه رضی الله تعالی عنها ډېره د تېز ذهن خاونده ښځه وه او چې کله به يې دوه خبرې واورېدې چې سره معارضه به يې وه سم د لاسه يې پوښتنه کوله يوه ورځ چې رسول الله ﷺ و فرمايل په بدر کې شريک صحابه او په حديبية کې شريک صحابه به جهنم ته نه ځي .

دې فوراً پوښتنه وکوله : الله ① خو فرمايي : و ان منکم الا واردها (په تاسې کې به هرڅوک يو ځل جهنم ته ځي) ؟

رسول الله ﷺ ورته و فرمايل : هو لکن بيا بل آيت هم دی ثم ننجي الذين اتقوا و نذر الظالمين فيها جثيا (بيا به مونږ هغه کسان ترې وباسو چې متقيان دي او ظالمان به پکې په زنګنونو باندې ناست پرېږدو.



## دحضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها

## جهېز

کله چې رسول الله ﷺ خپله مبارکه لور حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها حضرت علي کرمه الله وجهه ته ورکړه نو چې دهغې د واده او د خاوند کور ته د رخصت کولو وخت شو نو رسول الله ﷺ حضرت علي ته وويل څه د پيغمبر لور دې تاته مبارکه وي او بيا يې دوی دواړو ته په شريکه سره د خير او عافيت او د دوی اولاد ته هم د خير دعا وکوله . او په لاندې ډول د جهيز سامان يې ورسره ورکړو.
يوه بستره چې په هغه وخت کې د شکلي رخت نه جوړه وه .
يو دهغه وخت مطابق تخت
يوه تکيه د څرمنې پوښ يې وو.
يو د ابو د ساتلو لوښی (بوشکه)
دوه منګي
يوه پياله
دوه څادرونه
دوه لاس بند سپينو زرو
يو جای نماز
بيا رسول الله ﷺ حضرت علي ته وويل چې خلکو ته ډوډی ورکړي نو د حضرت علي سره چې د مهر نه کومې پيسې پاتې وې په هغه باندې يې ډوډۍ ورکړه او ټولو خلکو ته يې پنير ، خورما ،

غوښه او د وربشو ډوډۍ ورکړه او دا په هغه وخت کې بهترينه وليمه وه .



رحمان بابا وايي :

خدايه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک
په ظاهر په باطن سپین سپیڅلي خلک

هيڅ خندا مې لدې خلکو سره نشي
ژړوي مې هغه تللي تللي خلک

ماخذونه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث ,د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412هـ مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

8-القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ.

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ -1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.

14- على خطى الحبيب :عمرو خالد

17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م

18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.

19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة المكرمة.

20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.

21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.

22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.

23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ- 1982م.

24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ

25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.

27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28-السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ - 1996م.

٢٩-المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.

3٠- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

3١- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

3٢- القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

3٣- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.

# د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد ﷺ د نبوت معجزې
پښتو

2. ړنګه ځاله
پښتو

3. آشیانه سوخته
فارسي

4. په اسلام کې د انسان حقوق
انګلیسي

5. دین یې دام دی ددنیا په لار کې اېښی
پښتو

6. فرار از کزار
فارسي

7. له کزاره تېښته
پښتو

8. زوړ دین نوی مسلمان
پښتو

9. ډم ډمکو جي او لیکوال
پښتو

10. ادیان پشت در
فارسي

11. له دروازې تر شا دينونه
پښتو

12. د انصاف او اعتدال لاره
پښتو

13. کفري الفاظ
پښتو

14. کل بچه فارسي

15. معلومات عمومي
فارسي

16. د حج لارښود پښتو
او انګليسي

17. محمد رسول الله ﷺ سيرت اخلاق او پېژندنه
پښتو

18. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه اول
پښتو

19. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دوهم
پښتو

20. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دريم
پښتو

21. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه څلرم
پښتو

22. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه پنځم پښتو

23. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه شپږم پښتو

24. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه اوم پښتو

25. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه آتم ستاسې په لاس کې